صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

# مباحثات

بروز جمعۃ المبارک ۶۔ نومبر ۱۹۹۷ء

بمطابق ۵ رجب ۱۴۱۸ھ

## سرکاری رپورٹ

جلد ۸ شمارہ ۱

مندرجات


| مندرجات | صفحہ نمبر |
|---|---|
| ۱۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | ۱ |
| ۲۔ تحاریک استحقاق | ۳ |
| ۳۔ تحاریک التواء | ۴۶ |
| ۴۔ توجہ دلاؤ نوٹس | ۷۲ |
| ۵۔ قراردادیں | ۱۰۱ |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعۃ المبارک مورخہ 6 نومبر 1997ء بمطابق 5 رجب المرجب 1418 ھجری صبح دس بجکر اٹھارہ منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ خان چمکنی، مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ۝ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ۝ وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ط اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ۝ (پارہ 10 سورہ الانفال آیت 55-58)

ترجمہ۔ ارشاد باری تعالیٰ ہے یقیناً اللہ کے نزدیک زمین پر چلنے والی مخلوق میں سب سے بدتر وہ لوگ ہیں جنہوں نے حق کو ماننے سے انکار کیا، پھر کسی طرح وہ اسے قبول کرنے پر تیار نہیں ہیں خصوصاً ان میں سے وہ لوگ جن کے ساتھ آپ نے معاہدہ کیا پھر وہ ہر موقعہ پر اس کو توڑتے ہیں اور ذرا بھی خدا کا خوف نہیں کرتے۔ بس اگر یہ لوگ لڑائی میں تمھیں مل جائیں تو ان کی ایسی خبر لوکہ ان کے بعد جو دوسرے لوگ ایسی روش اختیار کرنے والے ہوں تو ان کے حواس باختہ ہو جائیں، توقع ہے کہ بدعہدوں کے اس انجام سے وہ سبق لیں گے اور اگر کبھی تمھیں کسی قوم سے خیانت کا اندیشہ ہو تو اس کے معاہدے کو اعلانیہ طور پر اس کے آگے پھینک دو یقیناً اللہ تعالیٰ خیانت کرنے والوں کو پسند نہیں کرتا۔

<u>جناب سپیکر</u>: معزز اراکین اسمبلی! ذیل اراکین اسمبلی نے رخصت کے لئے درخواستیں ارسال کی ہیں جن کے اسماء گرامی ذیل ہیں۔ جناب فتح اللہ خان صاحب نے 6 نومبر سے 26 نومبر تک' اور جناب حبیب اللہ خان کنڈی صاحب نے 6 نومبر سے 7 نومبر تک۔ **Is it the desire of the House that leave may be granted to the honourable Members?.**

**(The motion was carried).**

**<u>Mr. Speaker:</u>** The"Ayes" have it. Leave is granted to the honourable Members.

**<u>Panel of Chairmen.</u>**

In pursuance of sub rule (1) of Rule 14 of the Provincial Assembly of North West Frontier Province Procedure and Conduct of Business Rules, 1988, I hereby nominate the following Members, in order of priority, to form a Panel of Chairmen for the current session:-

1. Arbab Saifur Rehman Khan, MPA.
2. Mr. Ghafoor Khan Jadoon, MPA.
3. Mr. Hamidullah Khan, MPA.
4. Malik Naqeebullah Khan, MPA.

## Committee on Petitions.

In pursuance of Rule 116 of the Provincial Assembly of the North West Frontier Province Procedure and

Conduct of Business Rules, 1988, I hereby nominate a Committee on Petitions comprising of the following Members under the Chairmanship of Haji Muhammad Adeel, Deputy Speaker:-

1. Arbab Saifur Rehman Khan, MPA;
2. Mr. Khurshid Azam Khan, MPA;
3. Mr. Habibullah Khan Kundi, MPA;
4. Mr. Muhammad Taus Khan, MPA;
5. Mr. Said Rahim Khan, MPA;
6 Mian Iftikhar Hussain,MPA.

## تحاریک استحقاق

**Mr. Speaker:** Mr. Najmuddin Khan, MPA to please move his Privilege motion No. ......(Interruption)......

**Mr. Pir Muhammad Khan:** Point of order, sir.

**جناب نجم الدین:** د ټولو نه مخکښې جي زه دلته کښې عرض کومه، د بیګم صاحبې مور مړه ده، امجد دُرانی صاحب مړ دے او خوښه د زاهد خان مور هم مړه ده، د هغې ټولو په حق کښې دُعا اوکړئ۔ د دے نه وروستو به بیا نورې خبرې کوو۔

**حاجی عبدالرحمان خان:** یو جي قصوریه صاحب هم وفات شوے دے نو هغه هم په دُعا کښې یاد کړئ۔ عبدالکریم قصوریه صاحب خوښه د دے ممبر صاحب تره وو۔

(اس مرحلے پر مرحومین کی ایصال ثواب کیلئے دعائے مغفرت پڑھی گئی)

جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ: جناب سپیکر د Adjournment motions and Privilege motions اوچتولو نه مخکښې زه ستاسو توجه یو دوو خبرو ته راګرځول غواړمه، یو خو دا جناب سپیکر صاحب چه دا ډیره د افسوس خبره ده چه تقریباً څلور میاشتې اوشوې، 120 ورځې اوشوې چه د اسمبلۍ اجلاس د بجټ سیشن نه پس نه دے راغوښتے شوے، د نورو صوبائی اسمبلو دوه درے ځله راغوښتے شوے دے، سوائے د دے اسمبلئ نه، چه نن مونږه چونکه دا یو Constitutional requirements وو نو د هغه په وجه دا اجلاس راوغوښتے شو، ګنی نو څه پته چه دا کیدے شی نن هم دا اجلاس نه وے راغوښتے شوے۔ دا د دے خبرے نشاندهی کوی چه آیا په دے اسمبلئ کښې چه کومے خبرے کیږی، په دے اسمبلئ چه کوم بحث کیږی او چه کوم مونږه اپوزیشن مشوره ورکوی حکومت له یا د حکومت څه پالیسی وی نو دا په ټولو کښېHighest forum دے او چه دا دومره نظرانداز کړے شی، Neglect کړے شی نو د دے نتیجه به څما په خیال باندے د صوبے د پاره مفید نه وی۔ د دے د پاره یا خو د دے ممبرانو صاحبانو څه حیثیت نشته چه مونږه په اعتماد کښې په هیڅ خبره باندے نه اغستے کیږو او دا یو سلسله دلته کښې شروع شوے ده چه څلور میاشتے هم داسے د اسمبلۍ د دے اسمبلۍ کارروائی د عوامو د مفادو د پاره څه پیش رفت نه دے شوے۔ دویمه خبره جناب سپیکر صاحب، طریقه کار هم دا وی چه کله اجلاس راغواړی او Notification اوشی نو د اپوزیشن مشورے یا د هغوی سره یو میټنګ هم ډیر ضروری وی چه بعضIssues خونږه داسے وی چه هغه مونږه غواړو چه د

اسمبلی سیشن دوران کښې راشي نو دے خله په هغې باندے هم میټنګ نه دے شوے۔ دا ډیر اهمIssues دي مثلاً دNational Economy چه څه صورت حال دے او ورسره د دے صوبے دEconomy چه څه صورت حال دے۔ دا یو ډیر اهم موضوع ده او په دے باندے مونږه غوارو چه دلته دِ بحث اوشي او خپل تجاویز ورکړو او د دے صوبے د بهترئ د پاره که مونږ څه لږ ډیر کولے شو په هغې باندے مونږه عمل اوکړو۔ دغسے دا د Retrenchment کومه سلسله چه شروع شوے ده۔ ډاون سائزنګ په هغه سلسله کښې هم ټول ملک د هغې نه متاثر شوے دے۔

<u>جناب سپیکر:</u> هسے آفتاب خان که لږ Step by step لاړ شو تاسو دا دوه خبرے Take up کړے چه د دے جواب زه تاسو ته لږ درکړم۔ او بیا دا بله خبره اوکړئی نو ښه به نه وی؟

<u>جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ:</u> جناب سپیکر ! I will just take two minutes Retrenchment دے، بل دا ټرانسفرز چه کومے طریقے سره کیږی په دے صوبه کښې۔ په هغې باندے هم خونږه د ملګرو ډیر شکایات دی او هغه دا دی چه دا سلسله Politically یو قسم په هغې باندے استعمالیږی۔ ورسره ورسره د Law and order situation په ټول ملک کښې او په دے صوبه کښې چه کوم صورت حال دے دا هم یو اهم موضوع ده او ضروری ده چه په دے باندے بحث اوشي او ورسره ورسره د صوبے د حقوق،آیا مونږه ته خپل حق ملاویږی یا نه ملاویږی۔ دا داسے اهم مسئلے دی چه په دے سیشن کښې مونږه له پکار دا دی چه په دے باندے بحث اوکړو، بجټ چه پاس شوے دے، د هغې نه پس په هغه بجټ باندے هم څه عمل نه دے شوے۔ نو د دے

صورتحال په وجه دے صوبه کښ په خلقو کښ چه کومه بے چینی ده، خما په خیال خمونږه معزز ممبرانو صاحبانو ټولو ته معلومه ده۔ ځکه چه خپلے حلقے ته ځی، هغوی ته په خپله حلقه کښ مشکلات دی۔ په دے وجه باندے چه هغوی ته ښودلو د پاره هیڅ څه نیشته چه بهانی مونږه به خپلو خلقو له څه ورکوو، نو دا دیرے اهمے خبرے دی۔ په دے باندے ما ستاسو توجه راګرځول غوښتل چه پکار داوه چه دا طریقه کار واضح شوے وے۔

جناب سپیکر، یومنټ جی، آفتاب خان تاسو ته د دے څیز ښه علم دے، ټولو ممبرانو صاحبانو ته چه د اسمبلۍ د راغوښتو د پاره دوه طریقے دی۔ یو طریقه دا ده چه حکومتی فریق لارشی او ګورنر صاحب ته Requisition پیش کړی او ګورنر صاحب بیا اجلاس را اوغواړی۔ بله طریقه دا ده چه د اسمبلۍ ممبران دا کومه ګیله کوی نو دا ګیله زه تاسو نه کوم، آفتاب خان، تاسو تر نن تاریخه پورے یو Requisition کړے دے او دے نورو ممبرانو ته مو ونیلی دی چه راځئ مونږه سره Requisition اوکړئ۔ دا خو تش د اپوزیشن ډیوټی نه ده۔ دا83 ممبرز چه دی دا که د ګورنمنټ دی او که د اپوزیشن دی، تاسو که یو Requisition move کړے وے او دوی ته مو ونیلے وے چه راشئ دستخطونه اوکړئ او دوی نه وے کړے نو بیا به ستاسو دا Grievances وو۔ خما ستاسو نه دا Grievances دی چه تاسو تر نن تاریخه پورے یو ممبر صاحب هم Not a single Member has taken this step چه هغوی راشی او هغوی اووائی چه یره داسے څه ضروری مسئلے دی او په هغے باندے مونږه Requisition کوو That would have been anothermatter. چه فرض کړه تاسو یو Requisition لیکلے وے او خاصکر د اپوزیشن سائیډ والو، ولے چه د اپوزیشن هغه Requisition بےشکه چه هغه

For the purpose د هغوی هغه اکثریت نیشته خو دے د پاره independently

of requisition په هغه کښې نے دا چرته کښې هم نه دی لیکلی چه یره گورنمنټ والا

به نے نه راغواړی او اپوزیشن والا به نے نه را غواړی۔ ممبرز لفظ دے،

که تاسو د 83 په هاؤس کښې 21 ممبرز Sign کړنی ماته نو بیا زه به نے

راوغوارمه او په ما باندے نے نه گورنمنټ بندولے شی او نه راباندے بل څوک

بندولے شی۔ دا یوه خبره شوه، دویمه خبره تاسو دا ا وکړه چه یو میټنګ

مخکښے کیږی انشاء الله دا اسمبلی اوس شروع ده هغه میټنګ په هغه حالاتو

کښې کیږی آفتاب خان چه څه وختے داسے یو څیز وی چه هغه راوستل

غوښتل ضروری وی، یو نے منے کوی او بل وائی چه دا دے راشی نو داسے

هیڅ څیز نه وو دا تاسو اوس دا اجلاس به گورے په دے کښې چه څومره

څیزونه دی داټول داپوزیشن دی۔ یو څیز داسے هم نه دے چه هغه رد کړے

شوے دے Possibility تر دے حده پورے ما کوشش کړے دے چه بعض بعض

څیرونه Strictly, under the rules هم نه راتلل خو که معمولی هم د هغے

Forty percent chances نے وو نو ما په % 40 کښې هم Admit کړی دی

باقی دا دریمه خبره تاسو دغه د پاره ا وکړه چه داسے Law and order او

داسے نورے خبرے دا ټول څیزونه Admit شوے دی او انشاالله تعالٰی نن به

نے گورے څه به نن راځی څه به سبا راځی څه به بله ورځ باندے راځی هاں!

بهرکیف که صرف څه څیز هم داسے وی تر څو پورے چه خما د خپل ذات

تعلق دے بحیثیت سپیکر نو دا خه باربار وایمه چه ماته په تاسو کښې او دوی

کښې هیڅ قسم له فرق نشته دے۔ صفا الفاظو باندے نے وایم زه ستا سو هم

دومره Respect کومه چه څومره د دوی (تالیاں) نو که تاسو خپل څه هم

داسے محیز وی چه هغے د پاره میټنګ ضروری وی، نو زه خپله سوچ دا
کوم مباده حکومت په ما باندے دا دغه اونکری،چرته Noconfidence به
اووایمه چه هغه راباندے اونکری چه دا دے څه کوی، دے خو، نو ستاسو
دومره محیزونه راغلی دی۔ نن دا ما کتل، زما خیال دے چه ستاسو په ایم پی اے
ګانو کښې که زه دا شل ورځے ورکوم نو یواځے نجم الدین خان له نے
ورکولے نشم۔ دومره د هغه Matters دی په دے اسمبلئی کښې، دغه شانتے دا
نور، اوس زما خیال دے چه د دے سره به ستاسو تسلی شوی وی۔ دا ټول
محیزونه په آرام راروان دی خو هم د دے د پاره تاسو خپل طرف نه یو Effort
کوئ۔ زما خو خپله څه اتهارټی نیشته چه زه Suo-moto اسمبلی راوغوارم۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر! زما یو پوائنټ آف آرډر دے۔

جناب سپیکر، جناب پیر محمد خان۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب ! دا Clause (2) of Article 54
لاندے دا دے چه There shall be at least three sessions of the
National Assembly every year and not more than one hundred
and twenty days shall intervene between the last sitting of the
Assembly in one session and the date appointed for its first
sitting in the next session. دا جناب سپیکرصاحب ! 120 ورځے شوے
چه دا لازمے شوے۔ چه د دے په مینځ کښې به خا مخا اجلاس بیا راغواړی۔
اوس یو طرف ته لکه شیرپاؤ خان چه اوونیل چه تاسو خالص په هغه آخری
ورځ باندے چه Violation کیږی نو ځکه مو اجلاس راوغوښتلو۔ زه د دغے
سره هم Agree یم، خو زه وایم Violation شوے دے۔ دا 120 ورځے په

Constitution کښې ورکړے وے، خو غالباً په 7 جولائی باندے د اسمبلئی Last session شوے وو۔

جناب سپیکر، په 8 جولائی باندے شوے وو۔

جناب پیر محمد خان، چه په 8 جولائی باندے شی نو نن نے بیا 121 واں ورخ جوړیږی۔ چه په 7 جولائی باندے شی نو 122 ورخے ترینه جوړیږی۔ اوس د آرټیکل Violation اوشولو جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر، پیرمحمد خان! په مطلب د اورسیدم۔ خو لږ زما جواب ته غوږ کیږده۔

جناب پیر محمد خان، لږ غوندے جناب سپیکرصاحب! Excuse me for just a minute اوس جناب سپیکرصاحب! زه یو خو ستاسو نه په دے باندے به رولنګ غوارم۔ خو داسے رولنګ چه تاسو چیف منسټر ته هدایت اوکړنی چه د Article 112 لاندے هغه ګورنر ته د اسمبلئی د Dissolution د پاره وینا اوکړی۔ ځکه چه د آئین Violation اوشولو۔ چه د آئین Violation اوشولو نو اسمبلی د لاء اینډ آرډر، د آئین خلاف روانه ده۔ او چه د آئین خلاف روانه ده نو د دے اسمبلئی هیڅ حیثیت اوس نشته دے چه دا دِ برقراره پاتے شی، د دے د پاره Dissolution اوس لازم دے۔ ځکه چه کومه اسمبلی چه دا آئین نه منی۔ چه دا د1973 متفقه آئین دے او د هغے د یو آرټیکل داسے کهلم کُهلا خلاف ورزی کیږی۔ چه د هغے هیڅ حق نیشته۔ دا متفقه آئین دے نو لهذا تاسو مهربانی اوکړنی او په دے رولنګ ورکړنی چیف منسټر ته چه دے دِ ګورنر ته وینا اوکړی چه د اسمبلئی Dissolution اوکړی۔

جناب سپیکر، ده له جواب ورکرم۔

<u>جناب احمد حسن خان:</u> جناب سپیکر! سر بیا به تاسو په یو خائے جواب ورکړنی نو تاسو ته به آسانه شي۔

<u>جناب سپیکر:</u> ده له جواب ورکړم نو بیا تاسو خبره اوکړنی۔

<u>جناب احمد حسن خان:</u> بیا به تاسو ته ډیره آسانه شي۔ زما او د ده نقطه یوه ده۔

<u>جناب سپیکر:</u> یو منټ جی۔

<u>جناب احمد حسن خان:</u> جناب سپیکر! عرض دا دے۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> احمد حسن خان یو سیکنډ ما له راکړنی چه زه تاسو۔۔۔

<u>جناب احمد حسن خان:</u> نه تاسو ته به جواب آسان شی سر۔

<u>جناب سپیکر:</u> زما جواب آسان دے۔

<u>جناب احمد حسن خان:</u> خبره یوه ده باربار به تاسو ته تکلیف وی۔

<u>جناب سپیکر:</u> جواب زما آسان دے، زه ورکوم کنه۔ یو منټ جی، رومبے خوبه درته دا خبره اوکړم پیر محمد خان صاحب! چه Article 54 خو دا اولوستو خو Article 254 بیا هم څه وخت اولوله۔ نمبر 1 ، نمبر 2، Calculations مونږه څلور، شپږ خله کړے دے او بالکل Correct دے۔ بلکه ما نه چه څه وخت تپوس اوشو، ترکومے پورے چه خما تعلق دے نو ما دا په 4 نومبر راغوښته خو بیا په 4 نـومبر باندے ستاسو د PA meeting C وو۔ د هفے د وجه نه او ټول ممبران Important ممبران لکه څومره چه دی۔ ټول ښه ممبران دی خو هغه کمیټی داسے Important کمیټی ده چه د هغے په وجه باندے هغه اوشولو۔ بل زه په دے خوشحاله ووم چه دا تاریخ آخرے تاریخ دے۔ شپږم تاریخ چه دے دا په دے ښه دے چه دا Private Members' Day ده

چه دا ستاسو ټول براس اوخي چه د حکومت پکښې څه رانه شي نو دا په دے وجوهاتو باندے۔۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب ! زما Request دا وو۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر صاحب! زما په خبره ډِ۔۔۔

جناب سپیکر، جی Violation نه دے شوے، Calculation مونږ کړے دے۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکرصاحب! حساب کتاب به کوؤ، څه بده خبره خو نه ده، تاسو ته چه چا دا حساب کړے دے۔ زه خو په Mathematics کښې کمزورے یم۔ خو ما دا جمع کړی دی چه د 8 جولائی په حساب کړے نو د دے نه نن بیا 121 واں ورځ جوړیږی۔ که 7 جولائی شی نو 122 ورځے ترے نه جوړیږی۔ تاسو چه Article 254 خبره اوکړه۔۔۔۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر صاحب۔

جناب پیر محمد خان، یو منټ، Just a minute چه تاسو Article 254 خبره اوکړه هغه شته دے جناب سپیکرصاحب! خو هغه په کوم حالت کښې دے۔ هغه په داسے حالت کښې دے لکه په 1977 کښې چه کوم حالات پیدا شول چه په هغے کښې بل څه دغه نه شولو کیدے چه یو طرفته زمونږ عبدالولی خان صاحب، اصغرخان صاحب دوی ټولو اوونیل چه "پہلے احتساب پھر انتخاب" نو په نوے (90) ورځو کښې بیا نه شولو کیدے۔ چه نه شو کیدے نو مجبوری راغله، په هغے کښې لیکلی دی چه کله داسے حالات پیدا شی نو بیا په دے حالت کښې یو آرټیکل، هغه که فرض کړه که د هغے څه Violation اوشی نو هغه مجبوری ده، نو په 1977 په حالات کښې او په دے کښې فرق دے۔ دا خو داسے چل نے کړے دے لکه چه د وزیراعلٰی یا د پرائم منسټر خلاف عدم اعتماد پیش شی او

هغه خالص په آخری ورخ باندے کیږدی۔ اوس جناب سپیکرصاحب! ورځے د120 نه اوریدلی دی لهذا په پوائنټ آف آرډر باندے تاسو رولنګ ورکړنی چه چیف منسټر دِ ګورنر صاحب ته دغه ورکړی چه هغه د Dissolution order ورکړی۔

جناب سپیکر، پیر محمد خان! یو خو داشے دے۔

جناب پیر محمد خان، دا لیټ کول نور نه دی پکار جناب سپیکر صاحب، چه په 90 ورځو کښې بیا د الیکشن هغوی اعلان اوکړی۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! یو خو ستاسو په خدمت کښې دا خواست دے۔ بسم الله الرحمن الرحیم، اول خو جناب سپیکر! ستاسو په چیمبر کښې ستاسو سلام هم شوے وو او لیډر آف اپوزیشن هم هلته تشریف فرما وو۔ ځه ملګری بیا خمونږ په چیمبر کښې د پارلیمانی پارټئ لیډرز او خمونږه لیډر آف اپوزیشن او نور ملګری وو۔ لهذا ستاسو په وساطت سره زه د ټولو ممبرانو دوستانو، ملګرو په خدمت کښې سلام عرض کوم او بیا تاسو ته یو خواست کوم جناب سپیکر! ډیر موثر سپیکر وانی چه ډیرے کمے خبری کوی۔ دا د کتاب خبره ده (قہقہے) جناب سپیکر! تاسو به دا نه Mind کوئ، په دے کښې تاسو انخلنی کله نا کله۔ زه تاسو ته عرض کوم، لکه مثلاً ستاسو د دے بیان نه چه تاسو بار بار Calculation اوکړو، تا سو د حکومت د بد نیتنی د عملی مظاهرے ثبوت ورکړو۔ ته ولے کوے حساب کتاب جناب سپیکر! ستا په ستاف باندے کوم تندرد آسمان نه راپریوځی چه هغه به حساب کتاب کوی او هغه به ناست وی۔ جناب چیف منسټر نے ولے نه کوی۔ د جناب چیف منسټر ملګری زمونږ لاء منسټر، د Treasury Benches ملګری نے ولے نه

کوی جناب سپیکر، پیسه نشته، ترقیاتی کار نه کیږی، صرف بدلیانے کیږی او سیاسی انتقام کیږی نو دے حساب کتاب ته خو ا وزګار دی، دا ورځے خو دِ شماری د خدائے د پاره کنه۔ جناب سپیکر! (قطع کلامی)

جناب سپیکر: لاء منسټر دِ دَ دے جواب ورکړی۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! دا دَ دے خبرے عکاسی کوی چه که چرے تاسو دا حساب کتاب نه وے کړے، د آئین سره د دوی د محبت او د ادارو سره د دوی د محبت، د ادارو خبرے کوی، چه مونږ دا ونیل، چه دوی به دا ونیل چه One man versus Parliament مونږ ونیل نا One man versusJudiciary دا یو شے روان وو۔ په خپل ځائے انشاء الله رابه شی دا خبره به اوشی ۔ هغه روانه ده۔ تاسو په خپله فرمائیلی وو د بجټ د اجلاس نه پس چه چونکه دے ممبرانو ته او که نن تاسو اوګورئی۔ افسوس خبره دا ده تاسو مونږه هم کله نا کله د مشکل نه اوباسئی۔ خو زما دا ګیله ده چه حکومت زیات د مشکل نه د ویستو کوشش کوئی۔ بیا ورسره ستاسو رویه دومره ښه ده، دومره خوږه ده، دومره درنه ده، دومره عزتمنده ده چه مونږ په دے مجبوره شو چه مونږه هغه ستاسو د هغے د ویستلو کوشش چه کوم دے نو لږ مونږ هغے ته د نرمئی په نظر باندے اوګورو۔ جناب سپیکر! دا د حکومت، زه نن هم دا وایم چه که تا ورته صحیح ورخ نه وے ښودلے، دوی ترینه نه وو خبر چه کله به اسمبلی وی۔ چه کوم حکومت د آئینی قواعدو نه نه وی خبر جناب سپیکر! د دغے قواعد و ریفرنس به ته هله ورکوے چه هغه ذمه واری قبلوی، ذمه وار وی او د هغے نه پس بیا په هغے باندے عمل نه کوی۔ جناب سپیکر! څومره Crisis او تاسو بیا دا وایئی چه مونږ نه دی کړی۔ نه

جناب! د پارلیمنټ د یو ایکټ په ذریعه باندے، د دے عاجزانو په خله باندے خو مہر وهلے شوے وو۔ مونږ، ولے دِ راباندے دوی غرق کول چه Disqualify شوے وے چه دوی دستخط کړے وے۔ اوس به نے کوؤ انشاء الله و تعالٰی او خمونږ دا یقین دے چه Majority of Treasury Benches چه کوم دی نو هغه د خپل حکومت د رویے نه تنګ دی جناب سپیکر! مونږ ته پته ده انشاء الله اوس چه لږ Suspend کړے دے، چیف جسټس، د لږے مودے د پاره، ته به نے ګورے انشاء الله، مونږ به نے وراندے کوؤ۔ دوی به خمونږه، چه څوک په دے ایوان کښ د خپلو عوامو حقیقی نمائندګی کول غواړی، د آئین او قانون پاسداری کول غواړی انشاء الله هغه به خمونږ سره دستخط کوی او ستاسو دا توقع او دا ارمان به انشاء الله پوره کیږی۔ مونږ به نے را وراندے کوؤ او دوی به دستخط کوی۔

<u>جناب جان محمد خټک</u>، پوائنټ آف آرډر جی۔

<u>جناب نجم الدین</u> ، سر یو خائے به جواب راکړی۔ زما خیال دا دے۔

<u>جناب بشیر احمد بلور</u>،( وزیر قانون و پارلیمانی امور)، آو جی۔

<u>جناب نجم الدین</u> ، او کنه جناب مونږ خو ټول خبرے کوؤ جی۔ په دے خبره باندے خو ټول بحث کوی۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>، نه، د دوی جواب ورکړم بیا به تاسو خبره اوکړنی۔

<u>جناب نجم الدین</u> ، ښه ده جی۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>، جواب نشم ورکولے خو کوشش به کوم چه دا خپل نقطه نظر تاسو ته پیش کړم۔ جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی، زه د احمد حسن او د شیرپاؤ خان ډیر زیات مشکور یم چه دوی داسے قانونی نقطے

اوباسی، دا تاسو چه کومه خبره اوکړه چه مونږ Calculation کړے دے۔
زمونږ مطلب دا نه دے چه خالص سپیکرصاحب Calculation کړے دے۔
ستاسو چیمبر ته دوه خله راغلے یم We sat down and together we
have calculated that this day is constitutionally right. مونږ
ټهیک روان یو۔ د هغے نه پس څنګه چه زمونږ رور اوونیل چه په دے کښې
دیر Discussion پاتے دی۔ هغه Stay order اوشولو او د Judiciary او د
هغے خبره ، دا خو به انشاء الله مونږ په Discussion کښې کوؤ او د دے ټول
جوابونه به هم کوؤ او د خدائے په فضل سره زمونږه دا ملګری چه دی دا ټول
Politically، Mature دی او دا لوټا ازم چه دے انشاء الله دا به مونږ نه پریږدو
چه دا لوټا ازم بیا راشی او زمونږ دا یقین دے انشاء الله چه د سپریم کورټ فل
فیصله چه به راځی۔ نو په هغے کښې د لوټا ازم چه کومه خبره ده هغه به خواه
مخواه هغوی به په دےBan لګوی او مونږ دے خپلو دوستانو ته دا یقین
ورکوؤ چه خمونږ ملګری څومره چه دی Politically او Constitutionally
هغوی دومره Mature دی چه دا هغوی نشی دهوکه کولے۔ کومه پورے چه د
دوی دا خبره ده چه دویلپمنټ نشته، په دے وجه اسمبلی نه ده راغوښتے
شوے، دا سے هیڅ خبره نه ده۔ پیسے به راځی نوانشاء الله ټول کارونه به
کیږی خو پیسے چا اوخوړلے، په دے به هم Discussion اوکړو۔ چه کله دا
ټانم راغلو۔ مونږ به ورته اوښایو چه دا پیسےچا اوخوړلے او چرته لاړے او
چا دا خپلو جیبونو کښې او چا سرائے محلونه واغستل او چا سوئټزرلینډ
بنکونو کښې اربونه ډالرے جمع کړے دی۔ دا ټول جواب به انشاء الله دوی ته
ورکړو خو پکار دا ده چه د معمول طریقه کار شروع شی۔ د هغے نه پس

کومه خبره چه راخی د هر یوے خبرے به انشاء اللّٰه مونږ به تفصیلاً جواب دوی ته ورکړو۔ (شور)

جناب احمد حسن خان : جناب دغه شعر اوس دیر زور شوے دے چه پیسے چا اوخوړلے، په دے تیر کال کښې دننه که چا اوخوړلے، مونږ به نن حساب کوو چه څوک نے خوری۔ په څه شکل نے خوری۔ دا حساب به کوو۔ د خلاصے نه دی۔

جناب نجم الدین : پوائنټ آف آرډر ! زما عرض دا دے جی چه پیسے موټروے خوړلے دی۔ دغه نه دی خوړلی۔ د دوی پکښې خپله طریقه کار دے۔ زه عرض دا کوم چه دغه، اورو خوړلی دی۔ دا د میډیټ دا ممبران صاحبان، دا حکومت چه کوم ناست دے۔ زما تاسو ته دا درخواست دے چه کوم خمونږ پیر محمد صاحب او د نورو ملګرو کومے خبرے اوکړے۔ آئینی طور خو د دے اسمبلئی د ناستے هیڅ ضرورت نشته دے۔ آئینی طور ختمه ده جی۔ بالکل جی مونږ تاسو سره خو۔ دوئیم تکے دا دے (شور) سر زما خبرے ته دوی غوږ نه ایږدی۔ مسئله خو دغه ځائے کښې ده۔ زه عرض دا کوم چه یو ممبر قوم منتخب کړے وی د دے د پاره نے منتخب کړے وی چه هغه به لارښی په اسمبلئی کښې به Assembly questions پیش کړی، قراردادونه به پیش کړی ۔ آیا نور دے حکومت کښې خو مونږ ته ښه پته ده جی چه درے میاشتے اوشولے۔ ممبر خپلے حلقے ته نشی تلے ځکه چه مخکښې به ممبر چرته تعمیری کار کولے شو۔ چرته چاله به نے د ملازمت د پاره طریقه کارجوړولے شو۔ د چا د پاره به نے سفارش کولے شو۔ په خپله علاقه به نے د مسائلو د هوارولو د پاره به ولاړ وو۔ اوس د دے حده پورے خبره رارسیدلے ده چه

120 دن بعد اسمبلی دوی راغواری، چه کله آنین ته خبره Touch کیږی۔ دا هم د دے د پاره راغواری۔ د ممبر محه کار پاتے شوے دے۔ نه هلته کارکولے شی او نه دلته کښې کارکولے شی او دوی چه کوم د اسمبلئی دا اجلاس دومره لیټ کړے دے۔ مونږ ته ښه پته ده، تاسو واینی ریکوزیشن اوکړنی۔ ددوی نه دستخطونه واخلنی۔ زه په دے ټولو پسے ګرخیدلے یم۔ سوال مے ورته کړے دے۔ (قهقهے ۔تالیاں ) خو د دوی خلے ته هغه وخت جرندے پرتے وے۔ دستخط دوی محه رنګے کولے شو۔ خکه چه که د دستخط کوؤ نو په هغه ټانم باندے Dis-qualification وو۔ دا خو دِ خدائے (قطع کلامی)

جناب سپیکر: نو رمحیزونه دِ هم ډیر دی ۔ دا بل شے دِ هم راروان دے۔

جناب نجم الدین ، سر! دوه ټکی وایم۔ دوی دا خبرے ډیرے زیاتے اوکړے او وائی چه بهانی، زما عرض دا دے د دوی خلے ته جرندے پرتے وے که فرض کړه خدائے دِ دَ عدالت سره ښه اوکړی چه د دوی د خلے نه نے هغه جرندے کُهلاؤ کړے او لاسونه نے ورله آزاد کړل۔ خو خمونږ مسئله دا ده که فرض کړه په 120 ورخو کښې هلته هم کار نه شو کولے۔ زما یو ورور دلته کښې وائی چه د اسمبلئی ممبرانو له ګولډن هینډ شیک ورکړنی چه کورته خی۔ ولے مو دا مطالبه کړے ده۔ د دے د پاره مو کړے ده چه دلته د ممبر محه کار نه دے پاتے شوے۔ هیڅ کار نے نیشته۔ نو دومره خو دا اسمبلی راغوښتل غواړی چه مونږ په دغه کښې اووایو چه خمونږ فلاننی مسئله ده، که کیږی او که نه کیږی، دا خبره خو به اوشی چه یره په اسمبلئی کښې هغه خمونږه قوم به خمونږ په دے مطمئن شی چه په اسمبلئی کښې خو خمونږ خبره کم ازکم Discuss شوله او دا یواخے زما نه ده سر! د دے ټولو راسره اتفاق دے۔ دوی

ماسره بیگاه خبره کرے ده اوماته نے ونیلی دی چه دا خبره به چیرے۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکرصاحب! زما د خبرے جواب بلور صاحب او نه کړو۔ دا خو ډیره آسانه خبره ده ۔اوس نے هم تاسو کولے شئی۔ چه د 8 جولائی تاریخ تاسو په دغه کښ واچونی۔ Last day، 23 ورځے د جولائی، 31 د اګست، 30 دستمبر، 31 د اکتوبر او نن شپږم تاریخ دے۔ د دے نه 121 ورځے جوړیږی۔

جناب سپیکر، داسے کار دے پیرمحمد خان۔

جناب احمد حسن خان، پوائنټ آف آرډرسر۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکرصاحب! نه دا د آرټیکل Violation شوے دے۔

جناب سپیکر، پیرمحمد خان! داسے کار دے، زما خبره واوره۔

جناب احمد حسن خان، پوائنټ آف آرډرسر۔

جناب پیر محمد خان، په هره خبره خو مونږه سپریم کورټ ته نه شو تلے۔ چه دا دِDissolution اوشی۔

جناب سپیکر، یو منټ جی۔

جناب عبد السبحان خان ، پوائنټ آف آرډرسر۔

جناب سپیکر، یو منټ جی۔ ده له جواب ورکرم جی، پیرمحمد خان! داسے کار به اوکړنی چه Tea break اوشی تاسو او لاء منسټر صاحب به کینئی او Calculation به اوکړنی، که بیا Calculation د هغے نه څه بره وو نو بیا به پرے زه رولنګ ورکرم۔ چه څه رولز وی۔

جناب احمد حسن خان، د لاء منسټر خلاف خو مونږ تاسو ته راغلی یو۔ مونږ د

لاء منسټر او د ګورنمنټ خلاف ستاسو په عدالت کښې راغلی یو- مونږ د هغوی سره مخنګه کیناستے شو-

<u>جناب سپیکر:</u> صرف Calculation خپلو کښې اوکړئی، Calculation خو چرته خی نه کنه-

<u>جناب پیر محمد خان:</u> Calculation خو ما دا کړے دے، نیم منټ پرے نه لګی- د دوی سره که د دے نه زیاتی څه ثبوت وی-

<u>جناب سپیکر:</u> جناب عبد السبحان خان!

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان</u> ، دا Calculation اوکړئی جی هلته مو خطا کوی بلور صاحب-

<u>جناب پیر محمد خان:</u> اوس په دے خبره کښې هم مونږه سپریم کورټ ته خو، دا خو ډیره بده خبره ده چه دا د آئینViolation دے اوDissolution نه کیږی-

<u>جناب عبد السبحان خان:</u> سپیکر صاحب! شکریه، پیر محمد خان صاحب خو جی، تاسو ورته Article 254 اووے خو هغوی، زه به ورته واوروم خکه چه پریس والا به هغه لیکی- بل نجم الدین ورور مے خبره اوکړه او پیر محمد خان هم اوونیل او احمد حسن خان هم او ونیل- نجم الدین خان وائی چه د اسمبلئی د دے اجلاس نه پس به مونږه ته دستخط کوے- دوی کښې کوم یو تن راغلے دے چه مونږه ته ئے ونیلی دی چه اجلاس راغوارو- "نادان پڑ گئے سجدے میں، جب وقت قیام آیا"- اوس چه کوم دے هغوی--- (قطع کلامی)

<u>جناب نجم الدین:</u> پوائنٹ آف آرڈر سر- هغه بله ورخ ما دے صاحب ته ونیلی دی- هغه بله ورخ ده پسے تلے یم، ما ده ته ونیلی دی- جیConfession نے اوکړو-

جناب نجم الدین: په دے اسمبلئی کښې، دا خما مشر دے۔ دا خما مشر دے، دوی دِ اوواني سر، دے خما مشر دے۔ دے دِ اوواني چه ما نه دي ونيلي۔ (شور)

جناب اکرم خان دُرانی: جناب سپیکر صاحب! نجم الدین خان چه ورته ونیل جي، زه ولاړ ووم، خما په مخکښې نے ورته ونيلي دي۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: دا دے ملک جهانزیب هم شته، دا خبره بتوله غلطه ده۔ (شور)

جناب عبد السبحان خان: زه Article 254 اوروم خکه چه پریس والا خو د ده هغه واوريدل نو زه به دا واوروم۔ "جب کوئی فعل یا امر دستور کی رو سے ایک خاص مدت میں کرنا مطلوب ہو اور اس مدت میں نہ کیا جائے تو اس فعل یا امر کا کرنا صرف اسی وجہ سے کالعدم نہ ہوگا یا بصورت دیگر غیر موثر نہ ہوگا کہ یہ مذکورہ مدت میں نہیں کیا گیا تھا"۔ خو خما په خیال باندے پیر محمد خان ورهبنے شے گوری او وریسے دویمه پیرانه گوری۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا هم گورم۔ Otherwise ineffective by reason only, by reason only حکومت به مونږه ته Reason اوښائي۔ دوی سره څهReason وو؟

جناب احمد حسن خان: Further-more چه په بد نیتیٔ هم منحصر نه وي

جناب سپیکر:۔

جناب پیر محمد خان: دا Reason چه دے جناب سپیکر صاحب! په 1977 کښې داسے حالات پیدا شوے وو چه په هغے کښې په هغه وخت کښې مارشل لاء ایډ منسټریټر مجبوره شو چه هغه په 90 ورځو کښې الیکشن نه شو کولے۔ د آئین د آرټیکل خلاف ورزی د هغه نه شوے وه، خو By reason دا وو چه دا

کوم By reason چه دے چه په دے باندے د هغه دا مجبوری وه چه قوم اوغوښتو چه" پہلے احتساب پھر انتخاب"۔ دلته کښې به مونږ ه ته دوی Reason اوښائی چه څه Reason وو۔ آیا د وزیر اعلٰی خلاف څه خطره وه د عدم اعتماد، دا خطره خو نه وه۔ او نه شته۔ مونږه عدم اعتماد نه کوو او نه کولے شو۔ نو چه دومره خطره نه وه بیا صرف د اسمبلئ هغه، که د دوی په حساب شی120 نو په هغه آخری ورځ، نو د دے مطلب دا دے چه نن نے راوغواړی، صبا به بیا چهټی کړی خکه چه هغه یو ورځ پوره شوه۔ خو نه ما حساب کړے دے، ما سره دواړه شته، د8 جولائی راسره هم شته او د7 جولائی هم شته۔ د یو نه122 ورځے جوړیږی۔ که دوی وائی چه یره په8 جولائی شوے ده نو بیا ترے121 جوړیږی۔ Violation شوے دے جناب سپیکر صاحب۔ تاسو ته پکار دی، لکه څنګه چه مخکښے تاسو یو ډیر زبردست رولنګ ورکړے وو هغسے رولنګ ورکړنی۔ جناب سپیکر صاحب، چیف منسټر ته هدایت اوکړنے چه ګورنر ته وینا اوکړی چه د اسمبلئ Dissolution اوکړی خکه چه د آئین Violation شوے دے۔ چه Violation اوشی نو اوس د دے اسمبلئ هیڅ حق نشته چه هغه په دے کښې کینی او نه مونږه ته خان په دے مناسب ښکاری چه په دے هاؤس کښې ناست یو۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی اُمور</u>: جناب سپیکر صاحب! دوی ته خو مخکښے هم ما دا عرض اوکړو چه دا 52, 54 چه دے، دے کښې داسے هیڅ څه پابندی نشته

(قطع کلامی)

<u>جناب سپیکر</u>: 52, 54 پریږدنی۔ تاسو رومبے دا Calculation اوکړئ چه څه جوړیږی۔ (تالیاں)

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>، Calculation به اوکړو خو ما سره سپیکر صاحب ! ځنګه چه تاسو وئیلی دی - مونږه به دوی سره Tea break کښې کینو او دا Calculation به اوکړو۔

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، Calculation دِ اوس اوکړی۔ جناب سپیکر صاحب Calculation نه شی کولے۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی اُمور</u>، تاسو یو رولنګ ورکړو چه مونږه به کینو او Tea break کښې به د دے Calculation اوکړو۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>، جناب سپیکر ! په شاته تلو کښې دوی هیڅ عار نه محسوسوی۔ د سپریم کورټ شے نے نه منلو او بیا نے اومنلو۔ اوس دِ معافی اوغواړی او او دِ وائی چه بیا به نے نه کوؤ۔ بس ختمه ده خبره۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>، داسے خبره ده چه معافی نامے مونږه دوی د پاره ساتلے دی۔ د خدائے فضل دے د اے۔ این۔ پی تاریخ کښې دلته چا د چا نه معافی نه ده غوښتلے۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>، دا یواځے د اے۔ این۔ پی خبره نه ده، د هغوی موقف به په خپل ځائے وی۔

<u>جناب سپیکر</u>، خما خیال دے دا دیره اوشوه۔

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، د آئین د آرټیکل خلاف ورزی شوے ده، Calculation تاسو ورته اووایئی، اوس دِ اوکړی په دے ساعت۔ دا دومره ګرانه خبره نه ده۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>، یا House adjourn کړئ سر، د Constitutional violation شوے دے House adjourn کړئ۔ - .His position is not clear

جناب پیر محمد خان، د پینځو منټو د پاره نے Adjourn کړئ-

جناب سپیکر، ما اوس تاسو ته دا عرض اوکړو (قطع کلامی)

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! آئین بڑا واضح ہے۔ آرٹیکل 54 جس کا یہ حوالہ دیتے ہیں

(قطع کلامی)

جناب ہمایوں سیف اللہ خان، بھئی آپ Reason دیں۔ سپیکر صاحب آپ ان سے کہیں کہ وہ Reason دیں۔ اس میں کیا Reason ہے ان کے پاس؟

جناب اکرم خان دُرانی، تاسو ورته وینا اوکړه او منسټر صاحب د هغے خپل-

(قطع کلامی)

جناب ہمایوں سیف اللہ خان، جناب سپیکر! Reason ہے ہی نہیں یہ ویسے لگے ہوئے ہیں۔

حاجی محمد عدیل، میں پوائنٹ آف آرڈر پر بات کر رہا ہوں۔

جناب اکرم خان دُرانی، ستا د وینا خو پابند دی، د دے خبرے۔

Mr .Ahmad Hassan Khan:Point of order ,Mr .Speaker Sır ,

وزیر قانون و پارلیمانی امور، زه په پوائنټ آف آرډر باندے خبره کوم-

Mr. Ahmad Hassan Khan: I am on a point of order Mr. Speaker sir, regarding the contention of Deputy Speaker, Mr Speaker Sir. تاسو سپیکر یئی او ډپټی سپیکر ډیر زیات پوهه سړے دے You have already given your ruling Mr Speaker sir. چه حساب کتاب اوکړه- دے ځنګه ډپټی سپیکر دے- د قوانینو نه ښه خبر سړے دے او بیا پاسی جناب سپیکر- And you have

given your ruling Mr. Speaker sir.

وزیر قانون و پارلیمانی امور، سپیکر صاحب! مونږ خو ستاسو رولنګ منو۔ ما تاسو ته اوونیل چه مونږه به کینو او حساب کتاب به اوکړو او د اپوزیشن دوستانو ته دا خواست کوؤ چه داسے څه خبره نه ده چه دے کښې دوی داسے شور کوی چه یره دا اسمبلی دِ ماته شی۔

جناب احمد حسن خان، حساب دِ اوکړی 'په حساب کښې څه حرج دے۔ مونږه پرے حساب کړے دے۔ ستاسو په فرمان باندے دِ عمل اوشی؛ ګنې مونږه د دے خلاف احتجاجاً واک آوٹ کوؤ۔ حکومت دِ ستاسو د رولنګ احترام اوکړی او په هغے دِ جناب سپیکر عمل اوکړی۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور، حکومت خو وانی چه مونږه به Tea break کښې کینو، Calculation به اوکړو۔

جناب پیر محمد خان، پینځه منټه کښې کیږی۔

Mr. Ahmad Hassan Khan: Sir, after tea break, there will be every thing illegal and unconstitutional Sir.

جناب سپیکر، یو منټ تاسو کینئ۔ تاسو کینئ۔

جناب احمد حسن خان، د نن نه درے ورځے مخکښے که نے راغوښتے وے، د بل صبا نه د تبلیغ اجتماع شروع کیږی۔ په چار تاریخ نے راغوښتے وے خومونږه ټول دوستان مسلمانان صبا روان دی۔ جناب سپیکرصاحب، ستاسو په وساطت سره زه دعوت ورکوم دے رونړو له چه هلته کښې رائے وند ته تشریف یوځی۔ جناب سپیکر، دوی چه مونږه سره نن حساب کتاب کوی، ته د صوم و صلٰوة پابند نے، الحمد الله او ډیر ښه کردار دِ دے او ډیرښه مومن نے۔

تا به ورته دا ونیلی وو چه په پانچ چه باندے ئے مه راغواړئ، د تبلیغ اجتماع راروانه ده۔ په یکم به ئے راغوبنتے وو یا به ئے د هغے نه پس راغوبنتے وو۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان، جناب سپیکر صاحب! تاسو ونیلی وو، دوي دِ حساب اوکړی، د پینځو منتو خبره ده، مونږه ناست یو۔ حساب اوکړه کنه۔ دا حساب نه کیږی تا نه۔ گپ ئے جوړکړے دے۔ دا حساب نه کیږی تا نه، اوکړه دوه منټو کښې حساب۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور، جناب سپیکر! زه د همایون سیف الله عزت کوم خو پکاردی چه دوی ماته Direct خبره نه کوی۔ پکاردی چه ستاسو په Through دِ خبره اوکړی۔ او خپل Behaviour دِ هم داسے اوساتی چه دا اسمبلی ده دا هغه چوک یادگارنه دے چه دے به داسے خبرے کوی او نور خلق به دوی ته خالی گوری۔ زه ورته خواست کوم چه Be patience، خبره چه کونی نو هغه لږ طریقے سره اوکړئ۔ دا مونږه حکومت کښې ناست یو، داسے نه ده چه مونږه په خبره نه پوهیږو۔ مهربانی اوکړنی لږ په طریقه خبره کونی داسے غصّے مه کونی مونږه دلته هغه داسے ستاسو بندیوان نه یو ناست۔

زه تاسو ته دا عرض کوم۔۔۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان،جناب سپیکر صاحب !تاسو آرډر کړے دے جی۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور ، چه ځنگه تاسو دا اوونیل چه مونږه به د سیشن، Tea break کښې به کینو خبره به اوکړو او که داسے شوے وی نو کومه دنیا ورانیګی، هغه 254 شته۔ خبره هغه داسے خبره نه ده چه اسمبلی دِ ماته کړے شی۔

Mr.Speaker: Let us finish it up.

کیننی جی بس کیننی، اکرم خان کیننی جی۔

جناب اکرم خان دُرانی: جناب سپیکر صاحب! په حساب کتاب کښې څه حرج دے۔ دوی دِ حساب اوکړی۔ غته خبره دا ده چه په دے اسمبلی ورانیگی۔

جناب سپیکر: اکرم خان! کینه پلیز۔ تاسوتشریف کیږدئی۔ (شور)

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! مجھے ایک منٹ بات کرنے دیں۔ میں ڈپٹی سپیکر کے ساتھ ساتھ اس ایوان کا ایک اہم رکن بھی ہوں اور میں Help کرنا چاہتا ہوں۔ جناب سپیکر! Article 54 میں جو لکھا ہے کہ Not more than one hundred and twenty days shall be intervene between the last sitting of the Assembly in one session and the date appointed for its first sitting in the next session. تو اس کا مطلب یہ ہے کہ آخری دن بھی شامل نہیں ہے اور آج کا دن بھی شامل نہیں ہے تو یہ کل 120 دن ہونے اور ان کے درمیان آج کا یہ اجلاس ہو رہا ہے۔ اگر 8 تاریخ کو اجلاس ختم ہوا تھا تو پھر اس کے بعد 23 دن جولائی کے ہونے، اگست کے 31 دن ہونے، ستمبر کے 30 دن ہونے، اکتوبر کے 31 دن ہونے اور پھر نومبر کے 5 دن ہونے تو یہ کُل 120 دن بنتے ہیں اور قانون کے مطابق ایک سوبیس دن ان دونوں اجلاسوں کے درمیان ہونے چاہئیں، لہذا یہ اجلاس بالکل Regular اور صحیح ہے۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! ستاسو دا ډپټی سپیکر قصداً عمداً تاسو انخلول غواړی۔ گنی خبره د حساب ده۔ دغه حساب مونږه کول غواړو۔ جناب سپیکر، دا خمونږه حق جوړیدو چه مونږه واک آؤټ کړے وے خو مونږه واک آؤټ نه کوو۔ جناب سپیکر، تاسو خمونږه د دے یو اهم پوائنټ احترام اوکړنی۔ دس منټ Adjournment اوکړئ۔ چه دا کهاته صفا شی۔

دغلته به حساب اوکرو، دا کومه خبره ده؟

جناب سپیکر: احمد حسن خان داسے کار دے۔ یو منټ جی Let us finish it up. داسے پوزیشن دے که Still Pir Mohammad Khan insist چه دا Within time ده یا Within time نه ده، هغے باندے به رولنگ هله زه ورکوم چه د هغے Legal opinion څه شو او زه پرے څه کولے شم؟ Tea break نه پس Seriously کینني او Again calculation اوکړني۔ دا خپل پوائنټ چه کوم حاجی عدیل صاحب اووئیلے، دا هم اوګورئ او هغه هم اوګورئ، هغے نه پس Till that time I reserve my ruling د هغے نه پس به بیا زه رولنګ ورکړم چه Legal opinion ئے څه دے۔

جناب احمد حسن خان: با لکل مسټر سپیکر سر! ستاسو د جذباتو او خواهشاتو احترام کوو خو صرف دا عرض کوو چه په دے دوران کښې تاسو درے رولنګز ورکړه که تاسو دا ریکارډ اوګورئ جناب سپیکر۔ بهرحال آخری رولنګ چه څنګه مو ورکړو، اولنئ ورخ ده، مونږه دا وایو چه دا اسمبلی خوشګوارطریقے سره چلیږی او مونږه ستاسو د جذباتو او ستاسو د احکاماتو احترام کوو۔ خو جناب سپیکر تاسو هم دا مهربانی کوئے چه At a time درے څلور Rulings مه ورکوئے۔

جناب سپیکر: نه، نه، یو منټ دا Mis-statement به نه کوني I am sorry۔ ما رولنګ هم هغه ساعت هغه وخت سره دا ورکړو چه Tea break کښې کیننی۔

محترمه بیګم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب! د اسمبلئ اجلاس راغوښتل ستا کار دے۔ چه ته ئے راغواړے نو ته به کینے او ته به Calculation کوے، که

تا خپلو ملګرو سره، ته علمے سره، خپل سیکریټریټ سره ناست نے او تا Calculation کړے وی او تا ته ورځے 120 ښکاری او تا دا اجلاس آئینی راغوښتے وی نو په دے رولنګ ورکړه چه دا خما آئینی اجلاس دے۔ دا څنګه خبره ده تاسو Calculation نه دے کړے؟

جناب سپیکر: داسے نه ده جی۔

محترمه بیګم نسیم ولی خان: تا Calculation کړے دے که نه دِ دے کړے؟

جناب سپیکر: داسے نه ده جی۔ دا خما کار نه دے۔ زه نه راغوارم اجلاس۔ ------

(تالیاں)

بیګم نسیم ولی خان: هر څوک چه نے راغواړی ---- (قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: قانون دا دے چه زه هغه اجلاس راغوښتے شم چه ماته Requisition اوشی۔ باقی اجلاس د ګورنمنټ کار دے۔

محترمه بیګم نسیم ولی خان: د ګورنمنټ کار دے؟

جناب سپیکر: ګورنمنټ چه راغوښتے دے نو هغوی خپل Calculation کړے دے او بیا هغه Calculation باندے د دوی اعتراض دے۔ دوی به خپلو کښې کینی۔ چه دوی په خپلو کښې که فرض کړه د هغوی اعتراض صحیح وو او د دوی دا Calculation غلط وو بیا به زه یو رولنګ ورکوم۔ (قطع کلامی)

محترمه بیګم نسیم ولی خان: زه یو تپوس کول غوارم۔

جناب سپیکر: او که د دوی موقف صحیح وی او د هغوی غلط وی نو رولنګ به په هغه باندے زه ورکوم۔

محترمه بیګم نسیم ولی خان: یو تپوس کول غوارم سپیکر صاحب، ستاسو په

اجازت چه کله گورنر اجلاس راوغوښتو د هغے خو ديرے ورځے اوشوے مونږه له خط راغلے وو، نوټس راغلے وو، مونږه ترے خبر يو۔ تا له چه نوټس راغے آيا تا دا ضرورت نه دے محسوس کړے چه ته خپل Calculation اوکړے چه ستا ورځے پوره دي او که پوره نه دي؟

جناب سپیکر: د دے قانوناً په ما باندے پابندي نيشته۔ گورنر صاحب چه کوم اجلاس راغواړي نو دا د هغه خوښه ده چه کله ئے راغواړي۔ اوس فرض کړه که هغه راغوښتے وي او اوس ما ته حکم راشي چه دا ما Sine die,adjourned کړو نو زه به هغه تاسو ته Read کوم او پاسم به درنه۔ خما پکښ هيڅ يو ذره هم څه اختيار نيشته۔

بیگم نسیم ولی خان: په دے کښ ستا کار نيشته۔ بس دوي به کيني، دوي به خپل حساب کتاب اوکړي۔

## تحاریک استحقاق

**Mr. Speaker:** Mr. Najmuddin Khan, MPA to please move his Privilege motion No 15, under Rule 53 of the Rules of Procedure and Conduct of Business Rules, 1988. Mr. Najmuddin Khan

جناب نجم الدین: جناب سپیکر! میں ڈویژنل ڈائریکٹر محکمہ تعلیم (ملاکنڈ ڈویژن) سوات کے خلاف تحریک استحقاق پیش کرنا چاہتا ہوں کیونکہ ان کا میرے ساتھ ٹیلیفون پر رویہ غیر مہذبانہ اور غیر اخلاقی تھا۔ میں انہیں اپنے حلقے کے مسائل پیش کرنا چاہتا تھا اور اس سلسلے میں کئی دفعہ میں نے انہیں ان کے دفتر میں Contact کیا لیکن انہوں نے فون پر مجھ سے ملنا گوارا نہیں کیا اور جب فون پر ملا بھی تو مجھے صاف الفاظ میں کہا کہ میں آپ کی

کوئی بات سننے کے لئے تیار نہیں ہوں۔ آفیسر مذکورہ کے اس رویہ سے میرا استحقاق مجروح ہوا ہے۔ لہذا اسے استحقاق کمیٹی کے سپرد کیا جائے۔

جناب سپیکر صاحب ! دا یو ډیره اهمه خبره ده سر چه کوم دویژنل ډائریکټر تعلیم په سوات کښې ناست دے، هلته منسټر صاحب څه رولز ریګولیشن ایخودے وو چه څه ټرانسفرز چه کیږی دا په دے میاشت کښې کیږی او د هغې د پاره نے هم طریقه کار ایخودے وو چه د چا په میرټ باندے برابریږی د هغه کسانو ټرانسفر به کیږی۔ هغه د یو سیاسی جماعت په ایماء باندے بغیر د میرټ نه یو وسیع پیمانه باندے ټرانسفرز کړی وو۔ ما یولس ورځے هغه ته ټیلیفونونه اوکړل۔ چه کله ما ټیلیفون کړے دے نو هغه ټیلیفون راوچت کړے دے او ماته نے دا ونیلی دی چه ډائریکټر صاحب نشته دے۔ بیا ما یو کس اولمسوو هغه ته ما دا اوونیل چه ته دے ډائریکټر صاحب ته په ټیلیفون باندے اووایه چه بهانی ستا ما سره یو امانت پروت دے، چا راله راکړے دے او هغه امانت زه چا ته اورسوم؟ اول ما ټیلیفون اوکړو او اونے ونیل چه بهانی ډائریکټر صاحب نشته خو چه کله د امانت خبره راغله نو ستینو صاحب یو دم ډائریکټر صاحب ملاؤ کړو نو ډائریکټر صاحب ته ما اووے چه یره جی کم از کم مونږ خو د درے میاشتو نه لګیا یو۔ اوس د دے نه یو دوه منټه مخکښے نے ما ته اوونیل چه ډائریکټر صاحب نشته دے خو چه کله د امانت خبره راغله نو تا ټیلیفون اوچت کړو او هغه اوونیل چه ډائریکټر صاحب شته۔ بیا ما هغه مسائل چه کوم غیر قانونی طورد په Ban ټائم کښې وو یا د خپل اختیاراتو په وجه باندے چه کوم ټرانسفرز کړی وو، د هغے متعلق ما د هغه سره ذکر اوکړو چه ګوره دے کښې بعضې ټرانسفرز چه تا

کړی دی دا ، د یو سړی دوه میاشتے په سکول کښې نه دیComplete شوی، تا په وسیع پیمانه باندے په ډیر کښې ټرانسفرز کړی دی۔ د دے متعلق هغه ماته داسے خبره اوکړه۔ ما ته د هغه الفاظ دا دی چه خما شپږ میاشتے پاتے دی ریټائر کیدو ته او خما خپله مرضی ده چه په دے خانے کښې څه کومه او د گورنمنټ په دے وجه باندے، سر خما استحقاق مجروحه کړے دے او ډیره غټه بے عزتی ئے خما کړے ده او دا عرض کوم تاسو ته سر چه کم از کم دے افسرانو ته دے حده پورے، یا خو خما دا خیال دے چه دے حکومت هغوی ته دا Instructions ورکړے دی چه د اپوزیشن والا، اپوزیشن والا پریږده جی، دے حکومت والا خبره څوک نه منی۔ د دوئ په خبره باندے څوک عمل درآمد نه کوی ، ما خو مخکښې هم دا خبره په دے باندے اوچیړله چه کم از کم که دا بعضِ خبرے مونږ به ئے ستا سو په اسمبلئی کښې اووایو نو که عمل په کیږی او که نه کیږی خو خمونږه هغه خلقو ته به پته اولږی لیکن تراوسه پورے په دے باندے هیڅ قسم عمل نه دے شوے، او دے وجه نه خما استحقاق مجروحه شوے دے۔ زه دا ریکویسټ کوم ، درخواست کومه چه بهئی دا دِ استحقاق کمیټئ ته حواله شی او سر خما یوازے دا تحریک استحقاق نه دے، د دے نه یو مخکښې د منسټر ایجوکیشن خلاف وو، هغه ورک دے جی۔ هغه ورک دے او دا یو راغلے دے نو د دے زه درخواست کومه چه په دے باندے تاسو څه، خما د اپوزیشن ممبران به پرے خبرے اترے اوکړی او دوی به هم پرے خبرے اوکړی۔

جناب محمد ہاشم خان، (وزیر تعلیم): جناب سپیکر صاحب! هر یو آنریبل ممبر چه کوم د دے اسمبلئ دے هغه په خپل خانے باعزته دے، آنریبل دے او هر یو

افسر هغه که د صوبے هر یو محکمے سره تعلق ساتی د هغه عزت کول په هغوی ټولو باندے فرض دے۔ ما چه خبره ډویژنل ډائریکټر سره اوکړه، هغه یو ښه او زوړ آفیشل دے، تقریباً شپږ میاشتے پس چه څنګه نجم الدین خان پخپله اووئیلے چه د هغه ریټائرمنټ نزدے دے،Experienced سړے دے۔ هغوی اووئیلے چه زه کله دا خپل Career خرابوم او آخرینني ورځے به زه کله داسے خرابوم چه خما نه دِ ګستاخی اوشی او نجم الدین خمونږ آنریبل ایم پی اے چه دے څه به هغوی ته داسے څه غلطه خبره اوکړم۔ هغه وائی چه نه دی شوی داسے څه خبرے۔ نجم الدین خان سره مے ستاسو په چیمبر کښ چه وختی مونږ ناست وو، هم خبره اوکړله او هغوی ما راغوښتی دی، هغه ډویژنل ډائریکټر به دوی سره مخامخ کینوم، خپله خبره به اوکړی که واقعی ګستاخی هغه نه شوے وی نو بالکل مونږ چه څه دوی وائی هغے ته بیا مونږ تیار یو خو هغه وائی چه نه مو دِ کړی، هغه دوی ته تسلی کولو ته تیار دے۔ نو که دومره وخت پکښ تاسو راکړلو نو بالکل زه۔۔۔

<u>جناب نجم الدین</u> : خما عرض دا دے جی چه تحریک استحقاق دِ کمیټئ ته حواله شی، هغه چه وائی بهنی ما ده سره دا ګستاخی نه ده کړے، زه حلفیه بیان ورکومه چه دغه تحفے په وجه باندے دے ما سره په ټیلیفون ملاؤ شوے دے۔ ایمانی‌خبره کوم چه د دے نه مخکښ ما ټیلیفون کړے وو، وئیل نے چه نیشته او د تحفے خبره چه کله راغلے ده، هغه ما سره په ټیلیفون باندے خبره کړے ده۔ خما دا رائے ده چه دا دِ استحقاق کمیټئ ته حواله شی او چه حواله شی هلته به په مونږ Discusssion اوکړو۔ ډائریکټر صاحب به هم ناست وی، هغکسان چه د کومو مخکښ ما خبره کړے ده جی، هغوی به هم ناست وی او

په دے باندے به خبره اوکړو۔ زه د منسټر صاحب خبره چه څه جائز وی په هغے باندے به خبره اوکړو جی۔

جناب سلیم سیف اللہ خان: جناب سپیکر! میری گزارش یہ ہے کہ جب ایک فاضل رکن یہ فرما رہے ہیں کہ میں حلفیہ بیان دے رہا ہوں کہ میرے ساتھ یہ ہوا ہے تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ پھر اس میں مزید بحث کی ضرورت نہیں ہے اور اسے استحقاق کمیٹی کو بھیج دیا جائے اور اگر وہ وہاں اپنی صفائی پیش کرنا چاہتا ہے تو پیش کر دے۔

وزیر تعلیم: جناب سپیکر! بے شکه اولیږئ جی۔ خمونږ په هیڅ اعتراض نیشته بالکل۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: بنه جی۔

جناب بہادر خان: د یو خبرے زه تصدیق کومه چه څلورشپږ خل زه تلے یم۔ ما هم نه دے موندے په دغه دفتر کښې۔ هډو دفتر کښې وی نه۔ (تالیاں)

**Mr. Speaker**: Is it the desire of the House that the Privilege motion moved by Mr. Najmuddin Khan, MPA may be referred to the Privileges Committee?

**(The motion was carried).**

**Mr. Speaker:** "Ayes" have it. The Privilege motion is referred to the Privileges Committee.

## تحاریک التواء

**Mr. Speaker:** Mr. Ahmed Hassan Khan, MPA to please move his Adjournment motion.

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر ! خمونږه چه کوم بُنیادی او سحرنے کوم درخواست وو او خمونږ کوم تکلیف وو کوم شکایت وو ـ هغے هم دغه وجه ده چه په کوم وخت کښې مونږ دا ایډجرنمنټ موشن ورکړے وو نو د ایډجرمنټ موشن د پاره چه کوم Criteria کوم Principles دی، په رولز کښې چه هغے د پاره کوم طریقه کاردے، دا دومره اوس زره شوے ده چه دا صرف ټیکنیکل ګراؤنډ باندے هم Reject کیدلے شی۔ خو اوس بهرحال خما درخواست دا دے چه زه پیش کړمه ستاسو په خدمت کښې ، ستاسو په وساطت په اسمبلئی کښې، " کہ یہ اسمبلی معمول کی کارروائی روک کر ایک اہم مسئلے کو زیر بحث لائے اور وہ یہ ہے کہ ڈی۔ای او صاحبہ (زنانہ) ضلع پشاور کے زیر نگرانی ضلع پشاور میں جونیئر کلرکس کی بھرتیاں میرٹ کی پالیسی کے برعکس اور ڈی۔ای۔او (فیمیل) آفس کے عملہ کی ذاتی پسند اور ناپسند اور ملی بھگت کی بنیاد پر عمل میں آچکی ہیں جو محکمہ تعلیم میں ناجائز مداخلت ہے۔ جس کی وجہ سے مستحق امیدواروں میں بے چینی پائی جاتی ہے۔ "

جناب سپیکر! په هغه وخت کښې یا د هغے نه سمدستی پس مونږ ته موقع ملاؤ شوے وے نو دا واقعات په هغے وخت کښې شوے وو او په دے باندے مونږه ډیره خه خبره کولے شوه۔ زه لږ ستاسو د تحمل نه او بُردبارئ نه او. خمونږ په اپوزیشن باندے د نظر رحمت نه فائده اغستل غوارمه او دا خبره لږ حقیقت ته رسول غوارم، ستاسو په وساطت د ایجوکیشن منسټر صاحب په خدمت کښې دا هم عرض کول غوارم چه خما دا خبره واوری او د پوهیدو کوشش پرے اوکړی۔ جناب منسټر صاحب پخپله هم په دے باندے پوه دے چه دلته د ډی۔ ای۔ او( فیمیل) په آفس کښې انټریوزشوے وو، تاسو یقین اوکړئ جناب سپیکر صاحب او ماته یو امیدوار په هغے کښې ، دا ما چه په

دے خپل تحریک کښې څه لیکلی دی۔ دا ټول پوائنټس نے خما په نوټس کښې راوستل۔ جناب سپیکر! ما دلته کښې آن فلور آف دی هاؤس جناب منسټر صاحب په خدمت کښې درخواست کړے وو چه ته د میرټ یا دا ګورنمنټ یا ته نن د کوم میرټ خبره کوی، دا مونږ د زندګنی ټولو حالاتو کښې د میرټ پالیسی لیډل او په دے باندے عمل کول دا خمونږ خواهش دے چه دا پړے اوشیاو هغوی ما له دا تسلی راکړے وه چه که تاسو پکښې یو کیس هم داسے ثابت کړو چه هغه غلط وو نو زه به بیا تاسو ته به د دے خبرے ثبوت درکړم چه دغه شان غلط کار څوک کوی او د حکومت د میرټ د پالیسئ څوک مذاق اُړاوټی، چه هغے له به مونږ څومره سزا ورکوو۔ ما منسټر صاحب ته بذات خود بنفس نفیس درخواست ورکړو۔ جناب سپیکر! دلته په دوئ د انکوائرئ آرډرز اوکړل۔ د دے خبرے په سلسله کښې جناب والا زه د مسنټر صاحب دفتر ته څلور خله پخپله باندے تلے یم، زه د ډائریکټر سیکنډری سکول دفترته اوو خله پخپله تلے یم د سیکرټری ایجوکیشن دفتر ته څلور خله پخپله تلے یم۔ ډائریکټر سکولز پشاور ډویژن سره ما نهه خله په ټیلیفون خبرے کړی دی جناب سپیکر، او درے خله ما د ډی ای او ( فیمیل) سره خبرے کړی دی او هر خل دا خبره ونیلے شوے ده چه هیڅ ناجائز کارنه دے شوے۔ او بالآخر ثابت شوه چه ناجائز کار شوے وو او هغه خلق د هغے نه اووتل۔ اوس خما درخواست دا دے، د ایډجرمنټ موشن په سلسله کښې خو دا تاسو ایډمټ کړئ جناب سپیکر او بیا په دے باندے کله بحث کیږی نو دا به نور طوالت واخلی۔ زه دا غوارمه چه زه ایجوکیشن منسټر سره امداد اوکړم۔ هغه خما دا معروضات په مهربانئ سره واوری او د هغے حل دا دے چه دا زه څه

<u>جناب پیر محمد خان:</u> جناب سپیکرصاحب! زما یقین دے چه دوی د دے خبرے سره د اقلیت ممبرانو ته هم په دے کښی اختلاف نشته- چه په دے ملک کښی دے مکمل اسلامی قانون نافذ شی- نو په مسلمانانو باندے خو دا فرض عین ده- خودا اقلیت چه دی، د دوی پکښی هم دیر مفاد دی او فائدے دی پکښی- په خائے د دے چه په دے ملک کښی کوم انګریزی قوانین چلیږی- جناب سپیکر صاحب! چه اسلامی م ملک وی او په هغے کښی اسلامی قوانین باندے عمل نه کیږی نو د دے په مسلمان باندے یو عظیم ګناه ده، خکه چه مونږ د یو سری ذاتی عمل دے- خو اسلامی قوانین د ملک چه دی نو هغه د ټول ملک اجتماعی عمل دے بیا دا مونځ که روژه ده که زکوٰة دے- دا ټول د اسلامی قوانینو ماتحت دی- چه کله په یو ملک کښی اسلامی قوانین نافذ شی نو دا خودبخود دا څیزونه ددے سره راشی- هغه د روژو هم پابندی راولی په معاشره کښی او د مونځ هم پابندی راولی- هغه ټائمونه مقرر کړی چه مثلاً د ماسپخین ټائم دے دهغے د پاره به په ښار یو کښی، بازارونو کښی، دفترو کښی به د دے ټائم نه، د دے ټائم پورے چهټی وی- نو هغه زمونږ په دے ملک کښی تر اوسه پورے نشته- داسے په دے ملک کښی چه کوم فواحش و منکرات دی، د هغے خاتمه به په دے سره اوشی- او امن امان پهٔم په دے سره راشی- خکه جناب سپیکرصاحب! چه که مونږ،

ملاکنډ ته څوک ځي نو هلته کښې به غټه مسئله راپورته شي۔ چه يره په ملاکنډ کښې دا تجربه ګاه دے۔ قسماقسم قوانين پکښې ازموده کيږي۔ کله پکښې فاټا راځي، جرګه پکښې راځي۔ کله پکښې د شريعت څه حصه غونډ ے راشي، کله پکښې څوک وائي چه نه ريګولر لاء دِ راشي۔ نو دا د ټول پاکستان نه يو تجربه ګاه جوړ شوے دے۔ چه کله د الله تعالیٰ قوانين په دے ملک کښې مکمل نافذ شي ، نو بيا به د دے ترميمونه، د دے هر شي نه به دا پارليمنټ اوزګار شي۔ نورد ملک د ترقياتي کارونو طرفته، د عوامو ترقياتي منصوبے به جوړوي۔ د عوامو د مفادو طرفته به نے سوچ وي۔ ځکه چه کوم قوانين جوړ شوے وي په هغے باندے به يو عمل روان وي او په هغے کښې به ترميمات څوک کولے بيا نشي۔ بار بار به دا ترميمونه، بار بار د عدليے د انتظاميے يا د پارليمنټ دا جګړے به پکښې نه پيدا کيږي۔ ځکه دا مسئلے چه مونږ ته پيدا دي۔ چه زمونږه يو قانون نشته۔ مونږ په خپل لاس دلته يو قانون په خپل طبيعت په خپل مزاج جوړوو۔ بيا چه هغه مخکښې لاړ شي۔ بيا په هغے کښې جګړه پيدا شي۔ دا نن زمونږه څومره غټ مينډيټ دے، حکومت اخستے دے۔ د هغے باوجود هغوي يو Amendment نشي کولے، که Amendment راشي نو هلته کښې په عدالت هغه چيلنج شي او هغه نے Cancel کړي، مسترد نے کړي۔ دا ځکه چه دا قوانين زمونږ د لاس مونږ جوړوو۔ کوم قوانين چه الله تعالیٰ رالیږلے دے۔ مونږ په هغے باندے روان شو او هغه په دے ملک کښې مکمل نافذ شي نو بيا به زما خيال دے په دے کښې د ترميم ضرورت نه وي۔ څه پکښې کولے نشي۔ عدالت به په خپل ځائے خپل کارکوي او پارليمنټ به په خپل ځائے کارکوي۔ د دے وجے نه ما دا پيش کړو، زما يقين دے چه دا ټول به د دے

سره اتفاق کوی او دا به پاس کړی۔

جناب والٹر مسیح: پوائنٹ آف آرڈر سر۔

جناب اکرم خان درانی: سپیکرصاحب' 24 نمبر قرارداد هم زما دے که هغه هم د دے سره شامل شی۔

جناب والٹر مسیح: پوائنٹ آف آرڈر سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر! پہلی بات تو یہ ہے کہ میں بہت خوش ہوں کہ میں پہلی بار اسمبلی میں آیا ہوں' جبکہ پیر محمد خان صاحب کئی دفعہ اسمبلی کے ممبر رہ چکے ہیں۔میں خدا کا شکر ادا کرتا ہوں کہ ان کو آج اسلام یاد آیا ہے ۔ (قہقہے ) دوسری بات یہ ہے جناب سپیکر صاحب کہ انہوں نے ہمارا نام لیا ہے' انہیں چاہئیے تھا کہ پہلے ہمارے ساتھ کچھ صلاح مشورہ کرتے اور پھر ہاؤس میں ہمیں اپنے ساتھ شامل کرتے۔ تیسری بات یہ ہے کہ یہ مجھے بتائیں کہ خدا کی مہربانی سے اسلام میں داڑھی جو ہے وہ سنت رسول ہے۔ تو انہوں نے آج تک داڑھی کیوں نہیں رکھی ؟ ( قہقہے ) جناب سپیکر! یہ ایک اسلامی ملک ہے اور ہم اس کا احترام کرتے ہیں کیونکہ ہم اس ملک کے وفادار شہری ہیں' ہماری سانسوں میں اس ملک کی مٹی شامل ہے اور اگر یہ اسلامی نظام چاہتے ہیں تو ہم ان کے ساتھ بالکل متفق ہیں----------

جناب سپیکر: په دے باندے تاسو ټول Discussion کولے شئ۔ پوائنټ آف آرډر ضرورت هم نشته دے۔ دا ټول Resolutions دی۔

جناب اکرم خان دُرانی: سر! دوی یوه خبره اوکړه -----

جناب والٹر مسیح: باچا کینه، کینه، په آرام سره کینه۔ سپیکر صاحب' جب میں بات کر رہا ہوں تو You cannot interfere, my dear. -----------------

جناب سپیکر: دیکھیں' Cross talk کریں' نہ ایک دوسرے کو ایڈریس کریں۔

جناب والٹر مسیح: جناب سپیکر صاحب! یہ ایک بہت اہم مسئلہ ہے جو کہ مذہب سے تعلق رکھتا ہے اور اسے بڑے Serious طریقے سے حل کرنا چاہیے۔ یہاں تو انہوں نے بڑی جلدی میں یہ بات کر دی ہے کہ ہمیں یہاں پر اسلامی قانون نافذ کرنا چاہیے، ہم تمام مسلمان بھائیوں کے ساتھ اس میں شامل ہیں۔ کیونکہ یہ ایک اسلامی ملک ہے اور یہاں پر اسلامی نظام ہونا چاہیے لیکن کیا وجہ ہے کہ آج تک یعنی پچاس سال ہو چکے ہیں، لیکن یہاں اسلامی نظام نافذ نہیں ہوا۔ میں یہ سمجھتا ہوں کہ ان لوگوں کو چاہیے کہ یہ پہلے وفاقی گورنمنٹ سے رابطہ کریں، وہاں قانون بنائیں اور پھر وہ دوسرے صوبوں میں نافذ ہو گا۔ آج میں چاہتا ہوں کہ یہ اپنا ایک نمونہ پیش کریں کہ آج کے بعد یہ داڑھی رکھیں گے اور تمام ممبران اسمبلی پیر محمد خان صاحب سے کہیں گے کہ یہ پکا مسلمان ہے۔ شکریہ جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: جناب اکرم خان دُرانی۔

جناب اکرم خان دُرانی: زما جی 24 نمبر دے کہ زہ وایم۔

حاجی محمد عدیل (ڈپٹی سپیکر): پوائنٹ آف آرڈر ہے سر۔ جناب سپیکر! اس داڑھی کی وجہ سے تو پیر محمد خان نے جماعت اسلامی چھوڑی ہے۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکرصاحب! نہیں، میں نے جماعت اسلامی نہیں چھوڑی ہے۔ جناب سپیکرصاحب! زمونږ رورد خپلو خیالاتو اظهار اوکړو، مطلب دا دے چه د اتفاق مظاهره ئے اوکړه۔ په اسلامی شریعت باندے تهیک ده زمونږه گناهونه په خپل ځائے، ما اول هم دا ذکر کړے وو، چه که یو سړے مونځ نه کوی نو دا گناه ده۔ خو د دے یو سړی خپله گناه ده، که یو سړےروژه نه نیسی نو د دے یو سړی گناه ده۔ که یو سړے زکٰوة نه ورکوی نو دا گناه ده۔ خکه چه د فریضے خلاف کوی۔ خو دا د دے یو سړی ذاتی گناه ده۔ اوس کله

چه د اسلامی شریعت خبره راغله نو دا اجتماعی گناه ده۔ اجتماعی گناه په حکومت باندے راځی۔ ځکه چه د ملک چه د چا سره اختیار دے برسر اقتداره طبقه ده، نو د هغه د پاره په قرآن کښې واضح حکم دے۔ "ومن لم یحکم بما انزل الله فاو لئک هم الکفرون "۔ څوک چه زما په شریعت فیصلے نه کوی نو وانی دا کافران دی۔ دا قرآن وانی زه په دے کښې څه تحریف نشم کولے۔ جناب سپیکرصاحب ! بیا مونږه دے ټولو له پکار دی چه په دے کښې مونږه د حکومت سره زه بهرپور تعاون به کوو۔ هیڅوک په دے کښې خلاف نه کوی لکه زمونږ دے دوست چه د تعاون مظاهره اوکړه۔ نو په مونږه باندے خو فرض دی۔ او فرض عین ده۔ ځکه چه ما مخکښې ذکر اوکړو چه کوم څیز د مسلمان اجتماعی عبادت دے۔ د مسلمانانو ذاتی اعمال ټول د دے اجتماعی عبادت ماتحت دی۔ چه کله په دے ملک کښې اسلامی قوانین راشی ما ذکر اوکړو نو دا دومره جهګړے او دا اخوا دیخوا به نه وی۔ نن زمونږه رونړه د خپلو وزیرانو نه خلاف لګیا دی هغوی Call Attention Notice پیش کړو۔ دا ولے، دا ځکه چه په دے کښې هغه اسپرټ نشته دے چه په کوم اسپرټ باندے دا ملک آزاد شوے وو۔ هغه یکجهتی هغه مساوات هغه عدل، زمونږ عدیل ورورعدل غواړی دلته کښې، په ایوان کښې ئے کال اټینشن پیش کړو -- Short کوم سر! دا ولے عدل نشته، یعنی د حکومت سرے دے ډپټی سپیکردے هغه د خپل منسټر نه عدل غواړی او عدل څه دے یو وانی 700 نمبرے دی او د بل٥٥٥ نمبرے، په دے کښې واضح فرق نه دے۔ دا خو عدلنه دے کنه۔ نو چه په کوم ملک کښې داسے انصاف وی دا طریقه وی۔ چه هغه د 700 او د500 نمبرو فرق نشی کولے۔ په هغےکښې عدل نه وی۔ عدل ولے نشته چه په ملک کښې

اسلامی قوانین نشته۔ په دے ملک کښں دے مکمل اسلامی شریعت نافذ شی دا زمونږه او ستاسو د هر چا فریضه ده او زمونږه اقلیتی رونړو چه دے یو ورورد دے سره د حمایت اظهار اوکړو زه د دوئ شکریه ادا کوم۔ او زما دا یقین دے چه په دے هاؤس کښں به د دے هیڅ څوک خلاف نه کوی۔ دا به متفقه مرکز ته لاړ شی۔ بل زمونږ ورور اونیل چه دا د مرکز نه دے اول د دے نفاذ اوشی هله به صوبو ته راخی۔ ما هم مرکز ته سفارش لیکلے دے۔ چه دے مرکز ته مونږه سفارش اولیکو چه هغوی په ټول ملک کښں د دے نفاذ اوکړی شکریه جناب سپیکرصاحب۔

جناب سپیکر: درانی صاحب! زما خیال دے ستاسو په 24 نمبر دے او هم دغه شےدے چه خپل نمبر مو راشی نو خبرے به پرے اوکړنی۔

جناب اکرم خان درانی: نو ما ونیل که یو خانے جی اخلے۔ قرارداد نمبر 24۔ جناب سپیکر صاحب! یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ پاکستان میں اسلامی نظام نافذ کیا جائے۔ جناب سپیکرصاحب! زمونږ ورور پیرمحمد خان د دے متعلق خبره اوکړه۔ حقیقت دا دے چه په دے ملک کښں چه نن څومره بد امنی ده۔ یو و رورد بل ورور قتل عام شروع کړے دے۔ په مدرسوں باندے خلق خیژی۔ قتل عام لگیا دے۔ په جماعتونو کښں فائرنګ اوشی، نو په جماعتونو کښں خلق شهیدان شول۔ دا د څه کمی ده دا صرف کمی دا ده چه په دغه ملک کښں موجوده چه کوم نظام دے هغه فیل دے۔۔۔۔۔۔

ملک جهانزیب خان: پوائنٹ آف آرڈر۔ سر! داخو اسلامی طریقه نه ده دا زما نمبر وو۔ هغه خو هغوی واخستو۔اسلامی طریقه خو دا نه ده، نمبر ته به صبر

کونی کنه۔

جناب اکرم خان درانی، جهانزیب خان که وانی زه به کینم هغه زمونږ ورور دے خیر هغه دِ زما نه مخکښې شی۔

جناب سپیکر، نه چه پاس نے کړی نو بیا به خیر دے خبره کوؤ۔ اوس خو لا پاس شوے نه دے کنه۔

جناب اکرم خان دُرانی، نن جی زمونږ په ملک کښې کومه یو کمی ده هغه د نظام ده۔ حقیقت دا دے چه موجوده چه کوم نظام دے، هغه بالکل فیل دے۔ په هغے کښې د امیر او غریب فرق نشته دے۔ امیر ته په یو نظر کتل دی او غریب ته په بل نظر کتل دی۔ Even دا زمونږ اسمبلی چه دلته کښې قانون پاس کوی مونږ پخپله په دے اسمبلئی کښې قانون پاس کړو او زمونږ خپله په هغه قانون باندے څه هغه نشته دے۔ دلته مونږ یو ایکټ جوړ کړو نو هغه ایکټ چه هلته کښې لاړشی نو د هغه ایکټ خلاف ورزی کیږی او همیشه لکه دلته زمونږ دے وروڼو چه نن کومه خبره کوله هغه هم دا ده چه دلته کښې ایکټ جوړ شوے دے، په هغے باندے نشته دے، نور خو پریږدوه چه مونږ دلته کښې ناست یو، په مونږ کښې انصاف نشته دے۔ دلته کښې فیصلے کیږی د گورنمنټ په هغه بینچ چه څوک ناست دے۔ د هغوی سره یوه فیصله ده او دلته کښې څوک ناست دے د هغه سره بله فیصله ده۔ د فنډونه تقسیم کیږی، د گورنمنټ ممبر ته یو قسم فنډ دے او دلته چه څوک ناست دے۔ حالانکه دلته کښې ټول برابر یو او هر یو د خپلے علاقے هلته نمائندگی کوی۔ نو زمونږ صرف خبره دا ده-------

جناب سپیکر، آته نور هم دی، گوره جی ټائم ته به گورنی۔

جناب احمد حسن خان: سپیکر صاحب! د مانخه وخت دے او بانګ ختم دے۔

جناب اکرم خان دُرانی: صرف وخت دادے جی، چه د دے نظام بدلول پکار دی او مونږ وایو چه که دا د مینډیټ حکومت، چه دا راغلے دے۔ په مرکزکښې هم دے او په صوبه کښې هم دے، دا زمونږ ټول مسلمانان ورونړه دی۔ که دوی دا اوغواړی چه دا نظام بدلول غواړی نو زما خیال دے چه د شپے کښې صبا ته په قومی اسمبلئی کښې خو یو قرارداد راتلے شی۔ چه هغه د بل څه مفادات دی او که دوی اوغواړی چه د شپے نن کینی او صبا ته راوړی نو زما خیال دے څه پکښې دا حرج نشته دے۔ نو مونږ دا اسمبلی پُرزور سفارش کوومرکز ته چه هغه په دے پوره ملک کښې اسلامی نظام راولی او د ملک چه کوم سربراه دے جی، هغه د دے بالکل ذمه دار دے، هغه سربراه که چرته په دے باندے عمل اونکړی نو یوه ورځ به پروردګار د ده نه تپوس کوی چه ما تاته په دے ملک کښې اختیار درکړے وو۔ ستا هر څه په لاس کښې وو۔ نو نن اختیارچه کوم چا سره دے نو مونږ د دے اسمبلئ نه هغوی ته سفارش کوو چه نن هغه دِ دا خپل اختیار د اسلام په حق کښې، هغه خپل فرائض ادا کړی او په دے ملک کښې دِ اسلامی نظام راولی۔

Mr. Speaker: The honourable Minister

جناب عبد السبحان خان: دا د مانخه بانګ دے جی ۔ اول به دا مونځ ټول په جمع اوکړو۔

حاجی محمد عدیل: ( ڈپٹی سپیکر )۔ پوائنٹ آف آرڈر۔ سر! ایک انفارمیشن لینی ہے ان دو قراردادوں کے حوالے سے، کیونکہ یہ دونوں قراردادیں واضح نہیں ہیں۔ دونوں Movers ہمیں بتائیں کیونکہ انہوں نے لکھا ہے کہ اسلامی نظام بلکہ ان چاروں قراردادوں میں اسلامی

نظام کا ذکر آیا ہے۔ تو یہ اسلامی نظام کون سا ہے جناب! جعفری ہے' سُنی ہے' دیوبندی ہے' بریلوی ہے' جھنگوی ہے' اہلحدیث ہے یا سپاہ محمد کا اسلامی نظام ہے' یہ ذرا ہمیں وضاحت کر دیں کہ یہ کس کا اسلامی نظام ہے۔ کیونکہ یہ سب ایک دوسرے سے مختلف ہیں' تو یہ ذرا وضاحت کر دیں۔

جناب اکرم خان دُرانی: جناب سپیکر صاحب! خمونږه ورور ديره ښه خبره اوکړه خو مونږه د هغه اسلامی نظام خبره کوو چه کوم مونږه ته قرآن پاک پروردگار رالیږلے دے۔ او په قرآن پاک کښې یو شے داسے نشته چه د هغے کیے دے۔ مونږه صرف په هغه قرآن پاک باندے عمل کول غواړو چه هغه خمونږ د ټولو دے۔ په هغے کښې--------

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر صاحب! یہ بڑا Important ہے' یہ قرارداد آپ نے چیمبر میں ایڈمٹ کی ہے اور یہ آپ کی بڑی مہربانی ہے' لیکن میں یہ سمجھتا ہوں کہ یہ اس وقت تک پیش نہیں ہو سکتی جب تک کہ ہمیں یہ نہ بتایا جائے کہ وہ اسلامی نظام کون سا ہے' کیونکہ علماءِ دین سب برحق ہیں۔ لیکن ہم سب ایک دوسرے کو کہتے ہیں کہ تم کافر ہو اور تم کافر ہو۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! اکرم خان دُرانی خبره واضحه کړه۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! ہم نے بڑے اس قسم کے علماءِ کرام دیکھے ہیں کہ انہوں نے یہ کہا ہے کہ دیوبندی کافر ہے' سُنی کافر ہے' شیعہ کافر ہے اور بریلوی کافر ہے بلکہ ایک دوسرے کے قتل عام کا انہوں نے کہا ہے کہ فلاں کو قتل کر دیا جائے تو وہ جائز قتل ہو گا اور وہ جنت میں جائے گا تو یہ قرارداد Mover سے پوچھنے کے بعد پیش کرنی چاہیے تھی کہ وہ کون سے اسلامی نظام کے بارے میں ہے۔ ایک تو ہمارا

ہر Interpretation ہے' ایک قرآن ہے' ایک سُنت ہے اور اس کی Constitution عالم دین مختلف طریقے سے کرتا ہے' ہم تو کنفیوز ہو گئے ہیں' ایک دوسرے کے پیچھے نماز نہیں پڑھتے' ہمارے بچے پوچھتے ہیں کہ ہم فلاں مسجد کیوں نہیں جا سکتے' عید کی نماز سارے شہر میں ہوتی ہے لیکن ہر عالم دین ہر فرقہ کی الگ الگ نماز پڑھاتا ہے' نمازجنازہ الگ الگ پڑھتے ہیں تو Movers کو چاہیے کہ وہ ہمیں اور ہمارے بچوں کو بتائیں' ہماری اگلی نسلوں کو بتائیں کہ وہ کون سا اسلامی نظام چاہتے ہیں۔

جناب انور علی خان: جناب سپیکر صاحب! مونږه شریعت محمدی غواړو۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! ایک اسلامی نظام افغانستان کا ہے' ایک اسلامی نظام سعودی عرب کا ہے' ایک اسلامی نظام لیبیا کا ہے' ایک اسلامی نظام مصر کا ہے' ایک اسلامی نظام ایران کا ہے اور وہ کہتے ہیں کہ ہم سب سے بہتر ہیں۔ سعودی عرب والے کہتے ہیں کہ ہم سب سے بہتر ہیں۔ دراصل جناب سپیکر! اسلام کے ساتھ انہوں نے زیادتی کی ہے' قرآن کے ساتھ زیادتی کی ہے' مسلمانوں کے ساتھ زیادتی کی ہے اور ہمارے ہر فقے کے ساتھ زیادتی کی ہے They should come with clear cut Islami Nizaam. کہ آپ کون سا اسلامی نظام چاہتے ہیں۔ آپ اسلامی نظام کا تو کہتے ہیں لیکن آپ میں اتنی Contradictions ہیں کہ میں ابھی پیر محمد خان اور دوسرے Mover کو کھڑا کر دوں تو ایک دوسرے کے خلاف کفر کا فتویٰ دے دیں گے کیونکہ ایک جمعیت علماء اسلام کا ہے اور دوسرا جماعت اسلامی سے جدا ہوا ہے۔ شکریہ۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! زه د خپل ورور حاجی عدیل توجه دے طرف ته راګرځوم۔ یو خو زه د ده نه تپوس کوم چه ته کوم مسلک سره تعلق لرے؟

جناب سپیکر: یو منټ خبره اوکړه' چه دا نور هم خپله خپله خبره اوکړی۔

خپل خپل قراردادونه ټول اووايني چه بس ختم شي۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپيکر صاحب ! قرآن خمونږه يو قرآن دے که هر څو مذهبونه دي، خو قرآن يو دے، کتاب يو دے۔ پيغمبر خمونږه يو دے ۔ مونږه د الله تعالیٰ، د قرآن، د نظام مصطفٰی خبره کوؤ۔ د هغے د پاره دا قرارداد مونږه راوړے دے ۔ په دے ملک کښې اکثريتي چه د چا مذهب وي،په هغے باندے علماء کيناستے شي، دغه کښې هيڅ جهګړه نشته ۔ د پاکستان ټولو علماؤ په دے باندے اتفاق کړے دے۔ د اکيس علماؤ په دے باندے يوه زَره فيصله شته او د هغے نه پس بيا پړے يو دغه ناست دي۔ په دے کښې د علماؤ په مينځ کښې هيڅ قسمه اختلافات نشته چه اسلامي قانون په مسلمانانو باندے فرض عين دے۔ په دے کښې که شيعه ګان دي، اهلِ حديث دي که شافعي مذهب دي او که حنفي مذهب دي۔ په اسلامي قانون باندے دے ټولو اتفاق کړے دے چه دا په مسلمان باندے فرض عين دےاو په دے کښې هيڅ د اختلاف خبره نشته۔

جناب سپیکر، پير محمد خان بس۔ ملک جهانزيب خان تاسو Move کړئ۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپيکر ! په دے به مختصر دا عرض اوکرم چه --

جناب ثناء اللہ خان میاں خیل، ( وزیر صحت )، جناب سپیکر ! میں اس پر بولنا نہیں چاہتا لیکن صرف تھوڑی سی پیر محمد خان کی اصلاح کرنا چاہتا ہوں کہ انہوں نے مذاہب کا کہا ہے کہ قرآن میں مذاہب نہیں ہیں۔ مسلک اسلام میں جُدا ہیں لیکن مذاہب جُدا نہیں ہیں، مذہب ایک ہی ہے۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپيکر ! حاجي عديل صاحب نه دا خبره ولے هيره شوه چه په پي اين اے کښې د اے اين پي پارټئ خمونږه مشرانو د نظام مصطفٰی د پاره قربانيانے ورکړے وے۔ هغه هم دغه نظام غواړي کنه۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! آپ ان کو موقع دیں تاکہ وہ اس میں اپنی ترامیم لائیں۔ دوسری بات یہ ہے کہ ہمارے ہاں اسلامی شریعت کونسل ہے، شریعت کورٹ ہے، وہ جو فیصلہ بھی دے ہم اس کو مانتے ہیں۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! حاجی عدیل صاحب کو اس سلسلے میں بات نہیں کرنی چاہیے۔ان کا علم اس سلسلے میں بہت کم ہے۔

ملک جہانزیب خان: جناب سپیکر صاحب! یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ -------- (قطع کلامی)

جناب فرید خان طوفان:( وزیر خوراک و بلدیات ) جناب سپیکر! احمد حسن خان ډیره اهم نقطه په گوته کړه۔ دا مسئله چه کومه ده، دے باندے اختلاف راتلے نشته۔ په پاکستان کښې، دا یو د مسلمانانو مملکت دے۔ په دے کښې داسےبدبخته به څوک مسلمان وی چه وی مسلمان او د اسلامی قانون مخالفت کویدا خبره خوونږه په 73 آئین کښې فیصله شوے ده۔73 آئین چه کوم دے هغه دےملک کښې جوړ شوے دے، دا متفقه آئین دے په دے باندے د مختلفو مذهبی جماعتونو سیاسی مشرانو چه په هغے کښې مفتی محمود رحمته الله علیه خدائے دے اوبخښی او پروفیسر غفورصاحب چه د پیر محمد خان زوړ مشر وو سابقه ملگرے نے وو مشر نے وو او په دے----------

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! خما اوس هم مشر دے، د جماعت اسلامی مشر دے او خما اوس هم مشر دے۔ که یو سړی د جماعت اسلامی د فیصلے خلاف ورزی کړے وی نو د هغے دا مطلب نه دے۔ زه اوس هم جماعت اسلامی کښې یم۔ دوی خلاف ورزی کوی د خپلے خپلے پارټئ خو هغه پارټئ کښې دی۔

<u>وزیر خوراک و بلدیات</u>: جناب سپیکر صاحب ! خما دا مطلب دے چه په هغه آئین باندے د مذهبی جماعتونو او د اسلام نه باخبره عالمان چه کوم وو هغوی دا آئین کتلے وو، او د هغه آئین متعلق د ټولو دا متفقه رائے وه چه په پاکستان کښې به اسلامی نظام د دے آئین لاندے راتلے شی۔ او په هغه آئین کښې د دے اسلامی قوانینو د پاره اسلامی نظریاتی، اسلامی نظریاتی کونسل چه دے هغه ورته جوړ کړے شوے دے۔ دا چه کوم تجویز راغلے دے، دا قرارداد راغلےدے۔ د دے سره د چا اختلاف نشته دے، خو په 73 آئین کښې داسے یو اداره شته چه هغه د پاکستان دا ټول قوانین چه کوم دی، چه د اسلام سره متصادم دے هغه اسلامی رنگ ته او د اسلامی قانون مطابق کولو د پاره په هغے کښې گنجائش شته او هغه اداره قائمه ده۔ اوس هم کار کوی، که دا اسمبلی چه کوم ده د 73 آئین د روح مطابق چه د هغے لاندے د پاکستان ټول مملکت، لکه څنګه چه نن عدیل صاحب یا پیر محمد خان صاحب د مختلفو مذاهبو یا د مسلکونو کوم ذکر اوکړو، په هغے کښې اتفاق رائے د هغه آئین په رڼرا کښې اوپه دائره کارکښې پیدا کړے ده۔ نو اوس پکارنه دی چه بحیثیت مسلمانان مونږه دغه تفرقات چه کوم دی، نن دا ملک د فرقه واریت ښکا ردے۔ په دے کښې دا مسئلے چه کوم دی، نن هم اوچتیږی چه د هغے ټول بحیثیت قوم مونږه ته پرے تاوان رسیږی۔ زه وایم چه اسلامی نظام خلق د دے پاره غواړی چهانصاف د وی، عدل د وی، قتل وغارت گری د ختم شی۔ د بل سړی خون خرابه د نه کیږی۔ نو د هغے د پاره دا جذبه چه کومه ده، دا نیکه جذبه ده۔ نو پکار دا دی چه مونږه د73 د آئین د روح مطابق اسلامی نظریاتی کونسل ته د ا اپیل اوکړو چه کوم قوانین تاسو جوړوونی، رفتار تیز کړنی او دے پاکستان کښې داسے قوانین شته چه هغه د

اسلام سره متصادم وی، هغه دِ د اسلامی نظریے سره مطابق کړی۔ نو دا Practicable ده۔ دا عملی کیدے شی خو دا نورے خبرے، دا یو قرارداد به هم پاس کړو که مونږه رشتیا او په ایماندارئی سره اسلام غواړو ؟ سوال دا دے۔ نو حواست به دا وی چه چا قرارداد پیش کړے دے، محوک چه ورکښې ترمیم کوی، مونږه ټول په دے کښې شریک یو، چه کوم قوانین د اسلام خلاف دی نو هغه دَ اسلام تابع کول، د اسلامی قانون مطابق کولو د پاره چه په 73 آئین کښې کوم شق ایخودلے شوے دے، د هغے مطابق دِ هغه ته درخواست اوشی چه دا خپله کارروائی تیزه کړی او هغه قوانین کوم چه متصادم دی هغه دِ زر تر زره د اسلام مطابق کړی۔

<u>جناب اکرم خان دُرانی:</u> جناب سپیکر صاحب ! فرید طوفان صاحب صحیح خبره اوکړه۔ خو زه صرف دومره وانم چه اسلامی نظریاتی کونسل هغه خپل سفارشات مکمل کړی دی۔ هغه آخری چه څه وو، هغه هم مکمل کړی دی نو دا په هغے مخکښے کولو کښې خمونږه د دے خانے نه یو کوشش دے چه دا اسمبلی هم د دے خانے نه مرکز ته اولیکی او په دے کښې هیڅ قسمہ حرج نشته او هلته کښې هم اسلامی نظریاتی کونسل چه کوم هغه آخری تجاویز دی یا څه بدلول غواړی هغه مکمل شوے دی او په هغے باندے دِ عمل اوشی۔

<u>ملک جہانزیب خان:</u> جناب سپیکر صاحب ! یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ چونکہ پاکستان اسلام کے نام پر معرض وجود میں آیا ہے اور ملک میں اکثریت مسلمانوں کی ہے' لہذا فوجداری اور دیوانی قوانین کو اسلام کے بنیادی تقاضوں سے ہم آہنگ کیا جائے۔ اور ملک میں مکمل اسلامی نظام نافذ کیا جائے۔ جناب سپیکر ! په دے باندے زما ورونړو مخکښے په تفصیل

باندے خبرے اوکرے ۔ زہ بہ دومرہ اوښانم چہ د بدقسمتئے نہ خمونږہ پہ ملاکنډ ډویژن کښې د اسلام نوم خرڅیږی ۔ کہ جماعت اسلامی والا دی خلقو تہ وانی چہ ووټ راکړئی نو اسلام درلہ راولو۔ جمعیت العلماء والا دی نو ھغوی وانی مونږہ لہ ووټ راکړئ، اسلام درلہ راولو، نو پہ ملاکنډ ډویژن کښې د اسلام نوم خرڅیږی، د ووټ د پارہ او د خپلو مفادو د پارہ۔ چونکہ د ملاکنډ ډویژن خلق ډیر سادہ گان دی او صحیح مسلمانان دی نو د ھغوی متفقہ طوردا خواھش دے چہ ملاکنډ ډویژن کښې دِ د شرعی قوانینونفاذ اوشی ۔

--------

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر! پوائنټ آف آرډر۔ معافی غواړم خو مونږ د ټول پاکستان د پارہ قرارداد پیش کړے دے، او د دوی د فکر نہ زما خیال دے خبرہ اووتہ، ملاکنډ ډویژن پکښې نشتہ ۔ ټول ملک کښې اسلام غواړو۔

ملک جہانزیب خان: زہ وضاحت کوم ۔ چونکہ خما دے ورور پیرمحمد خان مخکښې ھم پہ ما باندے دا خبرہ اوکړہ چہ دہ خپل قرارداد واپس کړے وو ۔ اوس ھم خما ھغہ قرارداد پیش دے او زہ پہ ھغے باندے کلک ولاړ یم، خکہ چہ د ملاکنډ ډویژن خلق پہ اکثریت باندے دا غواړی چہ دلتہ کښې دِ عدالتی نظام قائم شی۔ سابقہ حکومت چہ کوم دا اعلان کړے وو، پہ ملاکنډ ډویژن کښې د اسلامی‌حکومت، نو ھلتہ کښې ټھیک عدالتونہ او قاضیان شتہ خو اسلامی قانون نشتہ، نو ھغے تہ دِ عملی جامہ ورواغوستلے شی او ھلتہ کښې دِ د اسلامی قانون نفاذ اوشی ۔ خما دے ورور دا دغہ اوکړو چہ کوم چاپ اسلام تاسو غواړئی نو مونږہ منصورہ چاپ اسلام نہ غواړو، مونږہ پرمټ چاپ

اسلام نه غواړو، ډيزل پرمټ وغيره اسلام مونږه نه غواړو۔ مونږه هغه اسلام غواړو چه کوم د الله او د الله د رسول منلے شوے دے۔ قرآن او سنت مطابق چه څه دی، هغه اسلام غواړو۔ خو بعضے ورونړو په تير وخت کښې د جماعت اسلامی ممبرانو په دے فلور باندے د نفاذ شريعت مخالفت کړے وو ستاسو په ريکارډ باندے به وی چه کله مولانا صوفی محمد هغه تحريک شروع کړو نو جماعت اسلامی والا د هغے اسلامی قانون مخالفت کړے وو۔ خو نه چا تپوس اوکړو ------ (قطع کلامی)

جناب پير محمد خان: جناب سپيکر صاحب ! د ريکارډ درست کولو د پاره، دے په هغه وخت کښې ممبر نه وو۔ د جماعت اسلامی ممبران د شريعت خلاف نه دی او هميشه ئے شريعت غوښتلے دے۔ د ده که جماعت اسلامی سره اختلاف وی خير دے، دے دِ په خپل ځائے وی، که جمعيت العلماء سره وی، په خپل ځائے، خونږه د دوی خبرے سره هيڅ اختلاف نشته۔ دے شريعت غواړی، مونږه هم غواړو نو خونږه د دوی دے قرارداد سره هم اتفاق دے۔ مونږه په ملک کښې اسلام غواړو۔

ملک جهانزيب خان: خو نه چا تپوس اوکړو چه ملاکنډ ډويژن کښې به اسلامی قانون څنګه نافذ شی، نو ما اووئيل چه کله جماعت اسلامی ورک شی۔ ځکه چه دوی اسلام نه غواړی۔ (تالياں) جناب سپيکر صاحب ! خونږه دا بعضِ مذهبی جماعتونه خو برائے نام اسلام غواړی، حالانکه اسلام منلو ته تيار نه دی۔ نو زه دا قرارداد پيش کوم چه په ټول پاکستان کښې عموماً او خصوصاً ملاکنډ ډويژن کښې دِ هغه عدالتی اسلامی نظام چه ديوانی او فوجداری مقدمو کښې دِ په هغے عمل درآمد اوشی۔

جناب سپیکر: ملک سرنگزیب خان۔

ملک سرنگزیب خان: جناب سپیکر صاحب! یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ چونکہ گزشتہ حکومت میں ملاکنڈ ڈویژن اور ضلع کوہستان میں نفاذ شریعت محمدی کا اعلان کیا گیا، لیکن ضلع کوہستان میں اس کا عملی نفاذ نہ ہو سکا، لہذا اس ایوان کے توسط سے حکومت سے اپیل کرتے ہیں کہ ضلع کوہستان میں فوری طور پر شریعت محمدی کا نفاذ کیا جائے کیونکہ ضلع کوہستان کی سو فیصد آبادی کی دلی خواہش ہے کہ یہاں پر اسلامی نظام جلد از جلد رائج ہو، لہذا حکومت اس اہم ترین مسئلے پر جلد از جلد عملی اقدامات شروع کرے۔ جناب سپیکر صاحب! ضلع کوهستان کښې او ملاکنډ دويژن کښې چه کوم مخکښې حکومت شريعت نافذ کړے وو، د هغے عملی اقدام نه دے شوے۔ د هغوی مقصد دا دے چه ضلع سيشن جج نوم ضلع قاضی ايخښودے دے، او قاضی په Contract باندے تحصيل کښې کينولے دے، هغه قاضيان فيصله يعنی دشريعت په مطابق هغوی چه اوکړی، يعنی دواړه جانبين رضا کړی او شريعت اوکړی، نو يو فريق بيا خی کورټ ته چه کوم هار کيږی نو هلته کښې دسترکټ قاضی يعنی سيشن جج وانی چه دا د قانون مطابق نه دی شوی، نو خمونږه دا عرض دے چه دا شريعت او قانون دا جدا جدا محيز دے۔ اوس چونکه هلته شريعت نافذ شوے دے، هلته قاضيان ناست دی نو چه کوم شرعی قانون باندے هلته فيصله کيږی، چه هغے باندے د قرآن و سنت مطابق عمل درآمد اوشی۔ نو خمونږه دا درحواست دے چه پوره ملک کښې دِ او شی ليکن که پوره ملک کښې څه مشکلات وی نو کوهستان ضلع سو فيصد يو مذهبی خلق دی او د هغوی دا حواهش دے چه مونږه باندے صحيح طريقه باندے شريعت نافذ شی۔

جناب سپیکر، خما خیال دے دا به ---------

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر صاحب ! د شریعت خبره کیږی او د مانخه ټائم دے۔

جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ، قرارداد کښې دا ونیلے شوے دی وفاقی حکومت ته چه زر تر زره ِ اوکړے شی - بس دا خبره ده پکښې، او سفارش دے، او دے کړے شی۔ نور د هغوی کار دے چه (قہقہے)

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر !د بی بی او د شیرپاؤ خان خیال یو دے۔

حاجی محمد یوسف خان، جناب سپیکر! خه اجازت غوارم او په دے باندے یوه خبره کول غوارم ---------

جناب عبدالسبحان خان، دا ډیر Important issue دے - د مونږ له پاره وقفه اوکړئ جی که نه وی نو بیا به ئے صبا اوکړو۔

حاجی محمد یوسف خان ترند، دا ډیره ضروری خبره ده جی مونږ ټول مسلمانان یو او په دے خبره کول غوارو۔

جناب عبدالسبحان خان، په دے به جی خبرے کوو۔

میاں مظفر شاه، خه د هغوی نه مخکښې ولاړیم۔

جناب سپیکر، تاسو لږ وروستو وئی مخکښې دوئ پاسیدلی وو ، بیا صبر اوکړئ۔

حاجی محمد یوسف خان ترند، دوئ پسے بیاما له نمبر راکړئی۔

میاں مظفر شاه، سپیکر صاحب! خه ستاسو په ذریعه دے هاؤس ته اودوئ ټولو ته، یو خو خما دا ریکویسټ دے چه څلورو ممبرانو دا قرارداد پیش کړے

دے او نن صبا مونږه اورو چه طالبانو هلته په افغانستان کښې شریعت نافذ کړے دے، نو مهربانی اوکړئ چه دے محلورو کسانو چا چه دا قرارداد پیش کړے دے، دوئ یو کال د پاره افغانستان ته واستوئ چه هلته تجربه حاصله کړی او بیا دِ مونږ له راشی او مونږه ته دِ اوښائی چه هلته څه پیش رفت شوے دے۔

(قہقہے)

<u>جناب اکرم خان درانی</u>، دلته جی د تجربے خلق شته دے خو که دوئ نمبر ورکړی۔تجربه ورسره شته صبا نه به نے شروع کړو۔

<u>جناب پیر محمد خان</u>، دا خو آسانه خبره ده جناب سپیکر! صاحب چه هلته کښې دومره دوی ته پته ده---------

<u>جناب احمد حسن خان</u>، محلورو وانړو سره، د دوی څه دشمنی ده، هلته کښې خو بغیر ږیرے والا سرے سر پریکړے راځی۔ (قہقہہ)

<u>جناب پیر محمد خان</u>، طالبانو ته دِ حواله کړی کنه، که دوی نشی نافذ کولے --

<u>میاں مظفر شاه</u>، جناب سپیکر صاحب! خما بل ریکویسټ دا دے--------

<u>حاجی محمد عدیل</u>، جناب سپیکر! ان سب کی جگہ جناب ترند صاحب کو افغانستان بھیج دیں کیونکہ ان کو کوئی خطرہ نہیں ہے۔

<u>میاں مظفر شاه</u>، ته لږ یو منټ - یو منټ ترند صاحب - سپیکر صاحب! بل زه وایم جی چه زمونږ دا ملک، نن صبا هسے هم تاسو او ټول مونږه وینو چه بحران کښې دے۔ مختلف Crisis دی، اقتصادی دی، مطلب دا دے چه پرائم منسټر هم منی، خمونږه حکومت هم نے منی او اپوزیشن والا نے هم منی۔ دیر خلق نے منی او دے ملک بدقسمته باندے دیرے زیاتے تجربے اوشولے جناب۔ کله پرے صدارتی نظام وی، کله پرے مارشل لاء وی، کله پرے څه

وی او کله پرے محه وی۔ واحد خمونږ یو منستر صاحب خبره اوکړله چه یو آئین متفقه طور باندے ټولو سیاسی پارټو 1973 ء کښې منظور کړے وو او په دے ملک کښې دا جمهوریت هم په ټهیک طریقه چا نه دے پریخے جناب۔ کله په د یحییٰ خان مارشل لاء کله په د ضیاء الحق مارشل لاء کله په محه کله په محه داسے دیرے خبرے راغلے دی جی خو اوس دا که نوے نوے تجربے په مونږه شروع کړو هسے هم دیر بد حال دے او هسے نه دا کشتئی چه دیره په هچکولو روانه ده بل خوا روانه نشی نو زه به دا وایم چه مونږه د جمهوریت دا شے چه کوم روان دے په دے ملک کښې دا مونږه پریږدو او دا ټهیک روان شی او دا ادارے چه کومے روانے دی ---

<u>جناب اکرم خان دُرانی</u>، جناب سپیکر صاحب ! دا تجربه خو نه ده۔ دا خو خمونږه ټول هغه یو اسلامی فرض دے۔ دا خو نوے تجربه نه ده ------

<u>ملک جهانزیب خان</u>، د مسلمانانو دا فرض نه دی ختمول پکار۔ دا تجربه ده۔ دا ملک محه له پاره اغستے دے۔ دا نوم نے ورله بدل کړنی پاکستان ورته مه واینی بیا نوم ورته بدل کړنی۔ دا محه خبره ده---- (تالیاں) اسلام سره لوبے نه دی پکار۔ مونږه د ټولے صوبے نمانندگان یو او دلته محه له پاره راغلے یو۔

<u>جناب سپیکر</u>، ټهیک ده جی۔

<u>ملک جهانزیب خان</u>، اول مونږه مسلمانان یو۔ وروستو پاکستانیان یو پارټیانے وروستو په دریم نمبر دی۔

<u>جناب سپیکر</u>، ټهیک شو۔

<u>حاجی محمد یوسف خان</u> ، جناب سپیکر ! خما گزارش دا دے جی ستاسو په وساطت باندے زه دے خپل محترم ورونړو ته دا یو گزارش کومه چه د هر

محیز خپل یو اهلیت وی، د هغے یو مقام وی۔ دا قرارداد که تاسو اوگورنی داد اسلام نظام سره منسلک دے۔ دا به نتی وی کښې هم راځی۔ دا به اخباراتو کښې هم راځی۔ مونږه عوامی نمانندگان یو۔ الحمدللّٰه چه په دے هاؤس کښې ماسوا د دے دوو ورونړو نه چه دا د اقلیت سره تعلق لری، مونږ ټول مسلمانان یو۔ اوس عرض دا دے جی که دا قرارداد، د نتی وی بو ستروے نو دا به بغیر محه ددغے نه، لاس به اوچت شوے وو، چه وفاق ته سفارش دِ اوکړی، که دا قرارداد د سونی گیس د پاره وے، دا قرارداد محه د بجلئ د پاره وے، آیا یو اسلامی قوانین داسے دی چه یره هغے د پاره مونږه جرح او دومره نکتے. دا خو د دے اسمبلئ په پاورکښې نه دے، دا خو د وفاقی حکومت په پاورکښې دے، هغوی به آئین کښې ترمیم کوی، الا بالا به گردن ملا - مونږ به د خپل طرف نه دا سفارش اوکړو۔ خما دوی ټولو ته درخواست دے چه د خدائے په خاطر د دے هاؤس نه به بهر اوخنی او د دے به دیر بد اثر وی۔

جناب سپیکر: بس جی۔ هاؤس کښې Put کوو - هاؤس ته نے Put کوو جی۔

جناب نجم الدین: یو منټ سر! خما هم پکښې خبره شته دے------

جناب سپیکر: بس جی، هاؤس ته نے Put کوو جی۔

جناب نجم الدین: سر! منسټر صاحب خبره اوکړه 1973ء د آئین مطابق - په هغے کښې جی واضحه دا ذکر دے چه په لس کاله کښې دننه دننه په دے ملک کښې به مکمل اسلامی نظام نافذ کیږی۔ 73ء آئین کله نافذ شوے دے جی، تر اوسه پورے په دے ملک کښې اسلامی نظام، دے حد ته خبره راغلے ده چه دوه نیمے بجے دی، مونږ مانخه نه پاتے کیږو۔ خما جی-------

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! معزز رکن اس آرٹیکل کا حوالہ دیں جس میں یہ Mention

ہے۔

جناب نجم الدین: ما کتاب نه دے راوړے ۔ صبا نے چه راوړم دوئ ته به نے ښانم جی (قہقہہ) په هغے کښی جی خما عرض دا دے سر، 73ء آئین مطابق په لس کاله کښی به دے ملک کښی اسلامی نظام نافذ کیږی ۔ شته دے پکښی جی ۔ په لس کاله کښی به اسلامی نظام نافذ کیږی جی۔

جناب پیر محمد خان: سپیکر صاحب ! دا خو ډیره، د پښتو خبره ده۔

جناب سپیکر: پیر محمد خان ! بس Put کوؤ جی۔ هسے هم هغه نور تاسو ختموئ نو بس څه فائده شوه۔ بس Put کوؤ جی۔

جناب پیر محمد خان: دا خو ډیره د افسوس خبره ده چه خمونږ ورونړه، نن خو دوی یو سنجیده خبرے پورے-----

جناب سپیکر: تاسو ته دا پیش کومه جی۔ The Resolutions moved by honourable Members Mr. Pir Muhammad Khan, Malik Jehanzeb Khan, Malik Sirangzeb Khan and Mr. Akram Khan Durrani (Interruption)

بیگم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: جی۔

بیگم نسیم ولی خان: دا داسے مسئله ده چه دا ووټ ته اچونی، خان خو نه شرموو ۔ مونږ ټول مسلمانان یو۔ نناوے فیصد، په ټول پاکستان کښی۔

جناب سپیکر: Put کوو نے جی۔

بیگم نسیم ولی خان: دا مطلب مو نه دے ۔ یو وضاحت غوارو۔ صرف دومره دِ راته اووائی چه قرارداد داسے پیش کړو چه دا قرارداد، دا اسلام او دا اسلامی

نظام به د یو مسلک اسلامی نظام نه وی۔ دا به د خدائے او رسوُل صَلَی اللّٰهُ عَلیهِ وَسلَم، خکه چه څنګه ممبرانو دلته خبره اوکړه او خلقو په خندا واغسته، حقیقت دا دے چه نن په افغانستان کښې کوم حال دے ۔ اول د اووه ډلو د اسلام جنګ ) وو، اووه ډلے د اسلام چه دی هغه تر ورشوے۔ اوس یو خوا طالبان دی او یو خوا هغه شمالی خلق دی۔ د هغوی جنګ ) دے ۔ اوس شمالیان پخپل مینځ کښې انخښتی دی، اصل جهاد نے شروع کړے دے، اسلام په اسلام جهاد کوی۔ دا د خنده خبره هم نه ده او د توقے خبره هم نه ده، دا ډیره سنجیده خبره ده ---------

<u>جناب اکرم خان دُرانی</u>: جناب سپیکر صاحب! چه کوم خائے کښې د طالبانو حکومت دے، هغه د مثال حکومت دے۔ هغه چه د کوم خائے نه شروع شوے دے او هغه انشاء اللّٰه -------

<u>بیگم نسیم ولی خان</u>، تاسو خبره کوله زه نه یم پاسیدلے، مهربانی به اوکړنی سپیکر ته به اوګورنی که سپیکر ما له فلور راکړے دے نو زه حق لرم چه خبره اوکړم۔ بیا تاسو پاسنی رد نے کړنی۔ مونږ صرف دومره وضاحت غواړو چه دا دِ ورسره اوونیلے شی چه په دے ملک کښې به هغه اسلام وی چه کوم دخدائےد رسول(صلَی اللّٰه علیه وآله وسلم ) اسلام دے او کوم د حضرت عمر فاروق رضی اللّٰه عنهُ د زمانے عدل و انصاف دے، هغه به وی خکه چه دا خو شل خُلے دی۔ اوس دغلته یا رسول اللّٰه کانفرنس روان دے ،د هغے په مخالفت کښې بیا بل دے، هلته سپاه صحابه ده، هلته سپاه محمد دے۔ هغه صحابه چه دی، هغوی هم محترم دی، محمد (رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلم) د هغوی نوم چه اخلو هغه د هغوی نه محترم دے، مونږ خو په دے وطن کښې د

اسلام هومره مظلوم شے خدائے شته که وینو. د هر طرفه په گزار دے۔ څوک وائی چه مونږ د دے مخالفت کوؤ او څوک وائی چه ووټنگ کوؤ. او تاسو نه دا ولے هیر دی چه په دے اسمبلئی کښ او د دے اسمبلئی په فلور د میر افضل خان، خدائے دِ نے اوبښی، د هغوئ په زمانه کښ ، شیرپاؤ خان دا دے ناست دے۔ د دوی په زمانه کښ دیره ممکنه ده چه هغے نه هغه غیر جماعتی حکومت وو، په هغه زمانه کښ، غفور خان جدون د هغے گواه دے، دا دے ناست دے، چه په دے اسلامی نظام خو پنځویش قراردادونه پاس شوے دی۔ نو که قرار داد باندے پاس کیږی نو پاس نے کړنی ورله، چه که دوی له خدائے دا اسلامی نظام ورکړی۔ خو پیر محمد ته بیا خواست کوؤ. هغه اسلامی نظام ، حکم دے د الله چه هر یو شے غواړنی، اول نے په خپل خان باندے نافذ کړنی۔ پخپل خان نے نافذ کړه او وائی چه اسلام قبلوے نو په اسلام کښ ټوټل ننوځئ، اسلام کښ Piece meal نشته چه د اسلام ښه خبره ده، خما په حق کښ خبره ده، هغه به ترے زه اخلم او که خما په حق اسلام دے، ماته اووایه چه په اسلامی نظام کښ ستا اسمبلی شته، ماته اووایه اسلامی نظام کښ ستا پارلیمنټ شته، ماته اووایه اسلامی نظام کښ ستا سینیټ شته او ماته دا هم اووایه چه په اسلامی نظام کښستا دا کومه طریقه چه ده، دا د ډیویلپمنټ کار، او دا خلقو ته حوالے، دا یو طریقه ده۔ اسلام سره خمونږ د هیڅا اختلاف نشته دے۔ الحمدلله، الحمدلله الحمدلله مونږ ټول مسلمانان یو او زه هر وخت پیرمحمد خان ته وایم چه مونږ خو بهتر مسلمانان خکه یو چه منافق نه یو۔ چه څه مو په زړه وی نو هغه مو په خُله وی۔ خمونږ د اسلام سره جنګ ) نه دے۔ خمونږ د اسلام د خرڅونکو سره جنګ ) دے (تالیاں) او دا تسلی خمونږ

اوکړنی چه دا اسلام چه دے، دا اسلام به د خدائے اسلام وی، دا به د خدائے د کلام اسلام وی او دا به د خدائے د رسول صلی اللّٰه علیه وآلهٖ وسلم اسلام وی، او دا دلته ناست خلق چه دی، دا به ټول اول دا اسلام په خپل ځان نافذوی او چه کله نے په ځان نافذ کړی نو د اسمبلئی ممبر نه نے، او چه کله نے په ځان نافذ کړے نو دتنخواه حقدارنه نے۔ چه په ځان نے نافذ کړے نو بیا دِ د احتجاج حق نشته دے۔ دا یو طریقه، یو سسټم دے، تاله نے قراردادِ مقاصد کښې اولیکل چه پاکستان یو اسلامی مملکت دے او په دے کښې به هیڅ یو قانون داسے نه جوړیږی چه هغه د اسلام او د شریعت منافی وی، او که داسے یو قانون جوړوی نو راځئی چه په شریکه مونږه ټول هاؤس پاسو او هغه قانون واخلو، او هغه چیلنج کړو۔ هغه چه کلهچیلنج کړو او که چرے مونږ کښې ایمان وی نو چه سول سپریم کورټ پورےنے هم اورسو او اووایو چه دا قانون ستاسو چه دے دا غیراسلامی دے۔ او چه دا ورته اووایو چه مونږ ټول سسټم بدلول غوارو۔ دے د پاره به تاسو اووایئی چه مشکلات به څومره وی، د دے د پاره به کارونه څه اوکړی۔ مونږ به دا قرارداد تاسو سره نن پاس کړو او تاسو دا قرارداد د زړه نه نه پاس کوئی۔ که د زړه نه پاس کوئی نو عمل ورله اوکړئی او عمل دا دے چه اول ټول مذهبیجماعتونه، په دے ملک چه هرڅومره مذهبی جماعتونه دیپه دے ملک کښې که هرڅومره فرقے دی او په دے ملک کښې که د هر مسلک خلق دے۔ هغوی ټول دِ یو ځائے کینی او په یو سټیج دِ کینی، او دے ملک له دِ یو آئین ورکړی چه دا اسلامی آئین دے۔ بیا دِ مونږ له راوړی چه دا آئین دے او دا نافذ کړئی۔ مونږ ه اوس څه نافذ کړو۔ مونږ خو د افغانستان اسلام نه شو نافذ کولے۔ که ماته دا وایئی چه زه به د

افغانستان اسلام نافذ کړم نو خدائے شته دے چه زه په حیثیت د ښځے خپل دا حق هیچا له هم نه ورکوم چه زه بهر ته نه شم وتلے، زه خبره نه شم کولے. زه د دنګے پوندے سینډل، کوم چه ما په پخو کړے دے، ټک ټک نه شم کولے، زه په دفتر کښې کار نه شم کولے، زه خپل ټپوس نه شم کولے. او د دے سره سره زه سړی ډاکټر له تلے نه شم.ښځه ډاکټره به په دفتر کښې کار نه کوی. نو که دا اسلام وی، نو دا به شائد چه دوی ته هم ناقبول وی. دا به دوی ته هم ناقبول وی. دوی سره چه نے کومه لوبه اوکړه. اول نے هر سړے په باړدر نیولو، ونیل چه اسلامی نظام دے، ږیره پریږده. اوس هر یو په دے وجه نیسی او وانی چه شرعی ږیره چه کومه ده هغه یو موټے دے او دغه شان لاندے ترینه کرپ اوباسی. دا سړی ترینه هم محفوظ نه دی.کله ورته وانی چه سر مو سرتور دے، بهر ته به نه راوځنی. نو که دغسے وی نو بیا خو به پیرمحمد خان سرتور سر اونه ګرځی، که طالبان راغلل، دا ډیره د سوچ خبره ده، ډیره د هوش خبره ده.مونږ د هرے خبرے نه مذاق جوړ کړو. حکومت ترینه هم مذاق جوړکړی او اپوزیشن ترینه هم مذاق جوړکړیاسلام مذاق نه دے.خدائے او د رسول صلی الله علیه وآله وسلم په باد، د دے اسلام د مسکیننی په نامه چه اسلام پورے مه خاندنی. یو جامع شے راوړنی چه پاس نے کړو. دا کیږدنی، دا به هم پاس کوؤ، مونږ دا نه دی ونیلی په ووټ. زهخو دے د پاره پاسیدم چه سپیکر صاحب خما خیال دے ووټ ته اچولو. ووټ پرے چا سره کونی.دوه د اقلیت ممبران دی، هغوی خو حال ونیلے دے چه مونږ وریسره یو. نو آیا دا مونږ مسلمانان کافران یو. څه عجیبه خبرے دی، مونږ نن د دے اسمبلنی نه تماشه جوړه کړے ده. مونږ نن په دے ټوله ورځ کښې، تاسو

هر یوسړے دے۔ خپل ګریوان کښې سر دننه کړئی۔ او په خپله ایماندارئی او په خپل ضمیر دِ اووائی چه آیا هغه نن هغه رول کړے دے چه هغه د عوامی نمائندګئ موافق وی نه مو دے کړے۔ لږ شانتے به داسے اوکړو چه د دے ادارے تقدس ته به اوګورو۔ خمونږ نه خپل عزت به وی، نو مونږ به ډیر کمتر خلق یو۔مونږ به خلقو کښې ډیر کمتر خلق یو، خو دا اداره چه ده، دا یو معززه اداره ده۔ چه د دے دروازے نه دننه راشو او مونږ په دے کرسو کینو نو پکار دا دی چه که مونږ د خان احترام نه کوؤ نو خیر دے د دے کرسئی احترام دِ اوکړو او د دغے کرسئی احترام دِ اوکړو۔ په دے ملک کښې د حکومت احترام مونږ تاسو ته نه وایو چه د حکومت احترام اوکړئی۔ د دے خپلے ادارے احتراماوکړئی، خکه چه د دے اسمبلئی یا د پارلیمنټ یا د سینیټ دا ټول خلق ممبران دی۔ که مونږ دا خلق شرموو او مونږ دا ممبران شرموو او مونږ دا وزیران شرموو، دا پبلک مونږ ته ګوری۔ که تاسو وایئی چه صبا له په پبلک کښې د اپوزیشن په دے باندے وقار زیاتیږی هم نے نه زیاتیږی۔ خکه چه د اپوزیشن متعلق به هم خلق وائی چه اپوزیشن هم ترینه تماشه جوړه کړے ده او حکومتپورے به هم خلق خاندی چه حکومت د هغوی په خندا پورے خندا کوی۔ د یوخل د پاره راځئی چه کینو او د زړه د صدق نه دا خبره اوکړو چه هره هغه خبره چه د اسلام په هغے لویو اصولو چه هغه ربنتیا دی او هغه صدق دے او هغه امانت دے۔ مونږ نن په دے خپل زړه کښې اووایو چه هغه خبره چه د دے ملک ، د دے صوبے، د دے قوم او د دے مملکت د مفاداتو دا خبره اوکړو او نور دا تماشه او دا خندا، نن خو وروميئی ورخ وه۔ توقے او مسخرے مو اوکړلے۔ اوس که د دوی خواهش دا وی چه دا قرارداد دِ پاس شی۔ دا قرارداد د کیږ ده، ووټ

پرے نه کیږی۔ او ووټ پرے هم نه دے پکار چه اوشی۔ مونږ اسلام نه متنازعه کوو، که څوک نے متنازعه کوی نو متنازعه د نے کړی۔ خمونږ اسلام یو دے۔ مونږ یو د خدائے اسلام او یو دخدائے د رسول صلی اللّٰه علیه وآله وسلم اسلام منو۔ مونږ نه فرقه واریت منو۔ شیعه گان نے مره کړل ۔چا مره کړل ؟ آواز راغے چه سُنیانو مره کړل۔سُنیان نے مره کړل، آواز راغےچه شیعه گانو مره کړل۔ تاسو ماته اووایئ چه په غیر اسلامی ملک کښ هم داسے جماعت نشته دے چه پهره پرے ولاړه وی، چه خلق مونځ کوی۔ په دے مملکت خداداد پاکستان کښ په جماعتونو پهرے دی۔ دا خمونږ اسلام مظلوم کړلو۔ په دے خبرو چه ټوقے ورپورے کوو، خنده ورپورے کوو او مسخرے ورپسے کوو۔ یو قرارداد مو پاس کړو، ووم لیږلو۔ خو یو قرارداد دے، پاس مو کړو او که پاس کونی نو شل خلے نے پاس کړنی۔ تماشه ترینه مه جوړونی۔ پلیز مهربانی اوکړنی۔ خپل خان ته ، خپل تقدس ته او د دے اسمبلئی دے تقدس ته اوگورنی۔

<u>جناب پیرمحمد خان</u>: جناب سپیکر صاحب ! لږ شانتے یوریکونسټ کومه ---

<u>جناب احمد حسن خان</u>: جناب سپیکر صاحب ! عرض دا دے چه نن کوم د اسمبلئی کارروائی شوے ده۔ دا ډیره د خوشحالئی خبره ده چه په ډیر خوشگوارماحول کښ شوے ده۔ او زه ستاسو په وساطت سره بی بی له دا تسلی ورکوم او دا د ریکارډ د صفا کولو کوشش کوم چه مونږ د خپل ضمیر مطابق د اسمبلئی د قانون او دا آئین دننه په دے خبره باندے سرخرو یو چه مونږ خپل کردار د خپل علم او د فهم مطابق په صحیح پیمانه باندے سرته رسولے دے۔ او انشاء اللّٰه تعالٰی کوشش به داسے کوو چه هم په دغه انداز کښ

ټولے اسمبلی دغه شانتے اوچلیږی۔ کله تاسو مونږه په خبره رضا کړئ کله تاسو خفه شوے او کله مونږه خفه شوے، په ربښتیا خبره باندے کله بی بی دردمنده شوےکله بل د زړه دردمند خاوند، خو مونږه د الله پاک په فضل سره خپل کردار د خپل ضمیر مطابق په ډیرصحیح طریقه نن ادا کړے وو او دا خلقو په اخبارونو کښې ډیرے قسم قسم خبرے وے چه نن په اسمبلئی کښې به دا کیږی او دا به کیږی۔ که تاسو اوګورنی نن د اسمبلئی کردار هم هغه شانتے پرُجوش او مدلل وو۔ د اسمبلئی د ممبرانو آواز چه هغه د قوم آواز دے او دا آوازخلق اوریدل غواړی او انشاء الله دا به تاسو صبا په اخبارونو کښې اووینئی چه د عوامو د توقعاتو مطابق که د حکومت خپل رول دے نو هغه د هغوی خپل رول دے، خمونږ د اپوزیشن چه خپل رول دے هغه خمونږ خپل رول دے انشاء الله تعالیٰ Message به عوامو ته صبا ډیر صحیح لاړ شی۔

*جناب پیرمحمد خان،* جناب سپیکر صاحب ! بی بی خبرے اوکړے۔ زه دا درخواست کومه۔ یو خو د ریزلوشن خپل یو طریقه کار دے او هغه ښکاره خبره ده چه تاسو به نے دغه له راوړنی، تپوس به د هاؤس نه کونی۔ ولے چه دا مونږ مرکز ته لیږو او دا یو قانون دے۔ او خما یقین دے بی بی هم تسلی ورکړه چه دے کښې اختلاف نه کوی۔ دا یو خبره چه یره دے کښې مذهبونه دی او مذهبونو کښې اختلافات دی، مذهبونوکښې اختلافات په بُنیادی خبرو کښې جناب سپیکر صاحب نشته دے۔ په دے خبره کښې هیڅ اختلاف نشته دےچه مونځ فرض دے، هرمذهب وانی چه دا فرض دے۔ دا "الحمد" نه واخله تر "قل هو" پورے د ټول مونځ هم دغه الفاظ دی، هوبهو هم دغه الفاظ هرمذهب والا وانی او مونځ پرے کوی۔ په دے کښې اختلافات نشته دے۔ اوس

که اختلاف وی او څوک لاسونه بره په سینه باندے ایږدی او څوک نے په نامه باندے نو دغه څه خبره نه ده-ده ----------

جناب سپیکر: پیرمحمد خان! خما خیال دے چه ډیر Discussion پرے اوشو جی-

جناب پیرمحمد خان: سر! Discussion پرے اوشو، دا یو خبره کول غوارم جناب سپیکر صاحب-

جناب سپیکر: باقی پولیټیکل خبره ترے نه جوړوو او زه نے هاؤس ته Put کومه چه اسلامی قوانین تاسو غوارئی او که نه نے غوارئی- Is it the desire of the House..........

جناب سپیکر: Unanimous شو-

آوازیں: آو جی-

جناب سپیکر: ټهیک شو جی - The resolution، ما مخکښی د هغوی رائے اغستے وه جی ، jointly moved by Mr. Pir Muhammad Khan, Malik Jehanzeb Khan, Malik Sirangzeb Khan and Mr. Akram Khan Durrani, MPAs, is passed unanimously.

The sitting is adjourned and we re-assemble tomorrow at 10.00.a.m. Thank you very much.

(اسمبلی کا اجلاس 7نومبر 1997، بروز ہفتہ دس بجے صبح تک کے لئے ملتوی ہو گیا)